# مختصرصفة الصلاة

# د لمانځه لنډه طريقه

ليکنه:

أ.د.أحمدبن محمدالخليل

د لوړو زده کړو استاذ/د شرعياتوپوهنځی/قصيم پوهنتون

*Download From; Aghalibrary.com*

بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

الحمد لله رب العالمین،وصلی الله وسلم علی نبینا محمد، وعلی آله،وصحبه أجمعین.

أمابعد:

ما چې د (لمانځه طریقه) په نامه کوم کتاب لیکلی، په دې کې مې د فقهاوو أقوال، دلائل او مناقشې ذکر کړي، بیا مې د هرې مسألې په اړه راجح قول ذکر کړی، په ځانګړې توګه هغه چې زما په نظر د نصوصو «قرآن او حدیث» سره ډېر نږدې او موافق ښکاره شوی دی. ځینو درنو ملګرو راته مشوره راکړه چې له یاد شوي کتاب نه د لمانځه طریقه مختصره کړم او په روان عبارت او عام فهمه انداز کې د لمانځه کیفیت بیان کړم، پرته له دې چې د فقهاوو اقوال او مناقشې ورسره ذکر شي، یعني په دې مختصر کې یوازې په غوره او احادیثو ته نږدې اقوالو باندې اکتفاء وکړم او بس.

د دوستانو دا مشوره راته مناسبه او ګټوره ښکاره شوه، نو له دې کبله مې دا مختصر ولیکه، هڅه مې دا کړېده چې په روان او ساده انداز یې تاسې لوستونکو ته وړاندې کړم.

له الله تعالی څخه امید لرم چې دغه مختصره هڅه ګټوره وګرځوي او پخپل دربار کې یې قبوله کړي، بېشکه الله تعالی جواد او کریم ذات دی.

لیکنه :أحمد بن محمد الخلیل

/23صفر1440/هجري

***Download From; Aghalibrary.com***

د لمانځه طريقه زده کول ضروري ده

عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رجلا دخل المسجد، ورسول الله ﷺ جالس في ناحية المسجد، فصلى ثم جاء فسلم عليه فقال له رسول الله ﷺ: "وعليك السلام، ارجع فصل فإنك لم تصل". فرجع فصلى ثم جاء فسلم، فقال: "وعليك السلام ارجع فصل فإنك لم تصل". فقال في الثانية، أو في التي بعدها:علمني يارسول الله، فقال: "إذا قمت إلى الصلاة فأسبغ الوضوء، ثم استقبل القبلة فكبر، ثم اقرأ بما تيسر معك من القرآن، ثم اركع حتى تطمئن راكعا، ثم ارفع حتى تستوي قائما، ثم اسجد حتى تطمئن ساجدا، ثم ارفع حتى تطمئن جالسا ثم اسجد حتى تطمئن ساجدا، ثم ارفع حتى تطمئن جالسا، ثم افعل ذلك في صلاتك كلها". (متفق عليه).

ژباړه: له ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى، چې يو سړى جومات ته ننوت په داسې حال کې چې رسول الله ﷺ د جومات په يو طرف کې ناست ؤ، هغه چې لمونځ وکړ نو راغى سلام يې واچاوه، نبي عليه الصلاة والسلام ورته د سلام ځواب ورکړ او ورته ويې فرمايل: لاړشه لمونځ وکړه تا لمونځ نه دى کړى! سړى واپس شو لمونځ يې وکړ او بيا راغى، سلام يې واچاوه، رسول الله ﷺ د سلام ځواب ورکړ، ورته ويې فرمايل: لاړ شه لمونځ وکړه تا لمونځ نه دى کړى، نو دغه سړي په دويم يا دريم ځل ورته عرض وکړ: اى د الله رسوله! ته يې راته وښايه! نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: کله چې د لمانځه اراده وکړې، نو په ښه شان اودس وکړه، بيا د قبلې په لور مخ کړه او تکبير (الله أکبر) ووايه، بيا د قرآن کريم هغه برخه ولوله کومه چې درته آسانه وي، بيا په اطمئنان سره رکوع وکړه (بيړه مه کوه)، بيا پورته شه او برابر ودرېږه، بيا په آرام سره سجده وکړه، بيا له سجدې ښخه ووروسته په آرام سره کښېنه، بيا دوهمه سجده په آرام سره وکړه او بيا خپل ټول لمونځ (رکعتونه) په همدغه شان سره ادا کړه. متفق عليه

***

## لمانځه ته چمتوالى:

۞ اودس:

* کله چې مسلمان د لمانځه اراده وکړي نو اودس کول ورته واجب دي.

الله تعالى فرمايي: (يا أيها الذين آمنوا إذا قمتم إلى الصلاة فاغسلوا وجوهكم وأيديكم إلى المرافق وامسحوا برءوسكم وأرجلكم إلى الكعبين وإن كنتم جنبا فاطهروا وإن كنتم مرضى أو

Download From; Aghalibrary.com

على سفر أو جاء أحد منكم من الغائط أو لامستم النساء فلم تجدوا ماء فتيمموا صعيدا طيبا فامسحوا بوجوهكم وأيديكم منه ما يريد الله ليجعل عليكم من حرج ولكن يريد ليطهركم وليتم نعمته عليكم لعلكم تشكرون). [المائدة:6]

ژباړه: ای مومنانو! کله چې تاسې لمانځه ته پاځېږئ نو ووینځئ خپل مخونه او لاسونه سره د څنګلو او مسحه وکړئ په خپلو سرونو باندې او ووینځئ خپلې پښې سره د ګېټکیوو (ښنګرو) که چیرته دجنابت په حالت کې وئ، نو ځان پاک کړئ ــ په غسل کولو سره-، که چیرته بیمار (ناروغ) او یا په سفر وئ یا مو ډک اودس ماتی وکړ یا مو ښځې سره کوروالی وکړ او اوبه مو ونه میندلې، نو په پاکه خاوره تیمم ووهئ، او په دې خاوره خپل مخونه او لاسونه مسحه کړئ، الله تعالی ستاسې تکلیفول نه غواړي، بلکې ستاسې پاکول غواړي، او پر تاسې خپل نعمت پوره کول غواړی د دې لپاره چې تاسې د الله شکر ادا کړئ. (مائده:۶)

* څلور واړه مذهبونه په دې متفق دي چې د هر لمانځه له پاره اودس تازه کول مستحب دي.

د اودس تازه کولو مطلب دا دی: چې سړی په اوداسه کې وي او بیا اودس وکړي، له نبي کریم ﷺ نه په صحیح سند سره ثابت دي چې هغه ﷺ به هر لمانځه ته اودس کولو.

اودس تازه کول مستحب دي خو په شرط کې یې د فقهاوو درې قوله دي. صحیح او غوره قول دا دی: چې اودس تازه کول د هغه چا لپاره مستحب دي چې په شته اوداسه یې لمونځ کړی وي.

***

لمانځه ته تلل

* له اوداسه نه وروسته به ډېر په سکون او ادب سره جومات ته روان شي

* بیا به دوه رکعته د مسجد حق (تحیة المسجد لمونځ) ادا کړي.

د أبو قتاده الأ نصاري په روایت کې راغلي دي چې: أن النبي ﷺ قال: "إذا دخل أحدكم المسجد فلا يجلس حتى يصلي ركعتين". [متفق عليه]

ژباړه: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: که له تاسې نه یو تن جومات ته ننوځي نو تر هغې پورې دې نه کښیني چې دوه رکعته تحیة المسجد (دجومات حق) یې نه وي ادا کړی.

Download From; Aghalibrary.com

* بیا به د اقامت په انتظار کښینی، بهتره داده چې په ذکر یا په تلاوت ځان مصروف کړي، ځوک چې د لمانځه لپاره انتظار کوي نو په دغه انتظار ورته د لمانځه ثواب رسېږي. له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې: أن رسول الله ﷺ قال: (الملائكة تصلي على أحدكم مادام في مصلاه ما لم يحدث، اللهم اغفرله وارحمه، لايزال أحدكم في صلاة مادامت الصلاة تحبسه، لايمنعه أن ينقلب إلى أهله إلا الصلاة). [رواه البخاري]

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې: پرښتي هغه کس ته دعا کوي چې د لمانځه په انتظار په جاینماز ناست وي، تر څو يې چې اودس نه وي مات شوی، وايي: اې الله! ته ورته ښښنه وکړې او ورباندې ورحمېږې. ستاسې یو کس تر هغه پورې په لمانځه کې حسابېږي تر هغو چې لمانځه هغه له نورو دنیاوي چارو څخه را ایسار کړی وي (يعني د لمانځه ثواب ورته رسېږي) ځکه په دې صورت کې کور ته د هغه د تللو يواځينی مانع لمونځ وي.

* که مؤذن په داسې حال کې د لمانځه اقامت شروع کړي، چې امام لا نه وي را رسیدلی نو مقتدي به تر هغې پورې نه پاڅېږي چې امام يې نه وي لیدلی.

* او که چېرې امام موجود ؤ او مؤذن اقامت وکړ، نو په دې صورت کې د مقتدی لپاره د پاڅېدو کومه شرعي اندازه نده راغلې، بلکې دا لمونځ کوونکي پورې اړه لري، کمزوري او عمر خوړلي کس ته د اقامت نه لږ مخکې ودریدل په کار دي په دې خاطر چې تکبیر تحریمه ترې فوت نشي، تندرست سړی که وروسته پاڅېږي څه باک نه کوي، وجه يې دا ده چې دی په چټکۍ سره تکبیر تحریمه ته پاڅېدلی شي، ځکه هغه سره د تکبیر تحریمه د فوت کېدو خطره نه وي.

* پر امام دا واجبه ده چې صفونه برابر کړي، صف یو بل ته په نږدې ودریدلو سره برابرېږي چې منځ کې يې خالیګاه پاتې نشي.

لمانځه ته نیت کول

Download From; Aghalibrary.com

* د فرض لمانځه د صحت له پاره شرط دا دی چې د فرضیت نیت به یې کوي. یعني زړه کې به داسي راتیروي چې فرض لمونځ کوم، او دا هر لمونځ کوونکي ته بداهتا حاصلیږي. یعني کله چې اودس وکړي او له کوره د جومات په طرف روان شی نو د فرض لمانځه ادا کول یې په زړه کې وي.

ابن قدامه رحمه الله وایی: د لمانځه له پاره نیت واجب دی او په دې باندې د ټول امت اتفاق دی چې له نیت نه پرته لمونځ صحیح نه دی. [المغني]

***

لمانځه ته ننوتل

تکبیر تحریمه

* تکبیر تحریمه د لمانځه له ارکانو څخه یو رکن دی، او په هیڅ حالت کې هم نه ساقطیږي، نه په هېره، نه په ناپوهۍ او نه په قصدي ډول.

دلیل یې: د الله جل جلاله دا فرمان دی چې: (وربك فكبر) [المدثر:٣]

(او خپل رب په لویې سره یادوه).

رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه صحابي ته لمونځ ښودلو، ورته ویې وویل: (إذاقمت إلى الصلاة فكبر) [متفق علیه] کله چې لمانځه ته پاڅیږې نو الله أکبر ووایه.

* د الله اکبر ویلو نه پرته لمونځ نه صحیح کیږي، د الله أکبر پر ځای بله کلمه ویل جائز نده.

* په فرضي لمانځه کې به تکبیر تحریمه هلته وایي چې کله پوره ودریږي.

* تکبیر تحریمه ته لاسونه پورته کول په حدیث او اجماع دفقهاوو سره ثابت دي.

* سنت طریقه دا ده چې لاسونه له تکبیر تحریمه سره یو ځای پورته شي، مخکې وروسته ترې نشي.

* تکبیرتحریمه ته د لاسونه پورته کولو پر مهال به ګوتې راجوختې او نیغي کړي، ځکه چې دا د خشوع سره ډېره مناسبه ده.

*Download From; Aghalibrary.com*

* لاسونه پورته کولو کې لمونځ کوونکي ته اختیار دی چې د اوږو په برابری یې پورته کوي او که د غوږونو په برابری، ځکه چې دواړه طریقې په احادیثو کې ثابتې دي، خو که زیاتره یې د اوږو په برابری پورته کړي نو ښه ده، ځکه چې احادیث پرې ډېر دي.

* نارینه چې څنګه په لمانځه کې لاسونه پورته کوي زنانه به یې هم همدغه شان پورته کوي، د ځینو علماوو رایه دا ده چې زنانه به لاسونه ډېر نه پورته کوي.

* امام لپاره په اوچت اواز تکبیر (الله أکبر) ویل په دې خاطر واجب دي چې مقتدیان یې واوري او اقتدا ورپسې وکړي.

## قیام«ودرېدل» او قرائت «لوستل»

۞ قیام:

* په فرض لمانځه کې قیام (ودریدل) رکن دی، قرآن، سنت او د امت اجماع درېواړه په دې ټینګار کوي چې له قیام «ودرېدلو» پرته فرض لمونځ صحیح نه دی.

* پاتې شول نفلي لمونځونه، نو هغه په ناسته هم جائز دي، اګر که د ودرېدلو توان هم ولري.

* که چېرې لمونځ کونکی په فرضي لمانځه کې د ودرېدلو توان ونلري نو په دې صورت کې ترې قیام ساقطېږي، که څه هم د لمانځه له ارکانو څخه دی، ځکه لمونځ کوونکی د ودرېدلو توان نه لري. او الله تعالی فرمایي: (فاتقوا الله ما استطعتم) [التغابن:۱۶]. له الله تعالی څخه وویرېږئ څومره چې ستاسو طاقت وي.

په یوه حدیث کې د نبي کریم ﷺ ارشاد دی، فرمایي: (إذا أمرتکم بأمر فأتوا منه مااستطعتم). [متفق علیه]

ژباړه: کله چې تاسې ته د یو کار امر وکړم، څومره چې ستاسې توان وي عمل پرې وکړئ.

* په دې اړه د لا زیات وضاحت په منظور یو بل حدیث هم واوره! رسول اکرم ﷺ ارشاد دی چې: (صل قائما، فإن لم تستطع فقاعداً، فإن لم تستطع فعلى جنب).[رواه البخاري]

Download From; Aghalibrary.com

ژباړه: په ولاړه لمونځ وکړه، که د ودریدلو توان نه لرې، په ناسته یې وکړه او که په ناسته یې نشې کولی، نو په اړخ باندې یې وکړه.

د دې حدیث مبارک نه دا څرګنده شوه چې د ناتوانی په صورت کې قیام ساقطیږي.

* که چیرته په ولاړه لمانځه کې د ناروغۍ یا بل کوم سبب په وجه خشوع نه برابریده، نو په دې صورت کې په ناسته لمونځ جائز دی، په فرضي لمانځه کې ودریدل مستقل شرط دی، که چیرته بغیر د عذر نه پر دیوال، یا امسا باندې تکیه ولګول شي، نو لمونځ یې نه صحیح کیږي.

## د قیام په حالت کې د لا سونو ایښودلو ځای

* د قیام په حالت کې سنت طریقه داده چې لمونځ کونکی دواړه لاسونه له نامه نه بره وتړي، یعنې ښی لاس به د چپ لاس د پاسه کیږدي، لاسونه زوړند پریښودل د سنت طریقې خلاف دي. حدیث د سهل بن سعد الساعدي کې راځي: (قال كان الناس يؤمرون أن يضع الرجل يده اليمنى على ذراعه اليسرى في الصلاة). [رواه البخاري]

ژباړه: د رسول الله ﷺ له خوا به خلکو ته امر وشو چې په لمانځه کې ښی لاس د کیڼ(چپ) لاس پر مړوند باندې کیږدي، دغه شان د وائل بن حجر په حدیث کې راغلي دي (أن النبي ﷺ كان يضع يده اليمنى على اليسرى في الصلاة). [رواه مسلم]

ژباړه: بېشکه نبي کریم ﷺ به په لمانځه کې ښی لاس په کیڼ (چپ) لاس باندې ایښوده.

* سنت طریقه داده چې په ښي لاس باندې د چپ لاس مړوند ونیول شي او که د لاسونو ګوتې یې پراخه کېښودلې نو څه باک نه کوي.

* لمونځ کوونکي ته اختیار دی چې دواړه لاسونه تر نامه لاندې ږدي او که بره، ځکه چې په دې کی د نبي عليه الصلاة والسلام څخه کومه صحیحه اندازه نقل نده، د دې وجهي نه ابن المنذر ویلي دي: لم يثبت عن النبي في ذلك شيء وهو مخير بينهما.

وقال الترمذي رحمه الله تعالى في (جامعه): (رأى بعضهم أن يضعهما فوق سرته، و رأى بعضهم أن يضعهما تحت سرته، كل ذلك واسع عندهم).

***Download From; Aghalibrary.com***

ژباړه: لاسونه د نامه نه بره یا لاندې ایښودلو په باره کې د نبي علیه الصلاة والسلام څخه کوم صحیح حدیث ثابت نه دی، لمونځ کوونکي ته اختیار دی چې د نامه نه لاندې یې ږدي او که بره.

امام ترمذي رحمه الله په خپل کتاب جامع الترمذي کې ویلي دي: د ځینو علماو نظر دا دی چې لاسونه دې له نامه نه پورته کیږدي او د ځینو په نظر یې له نامه نه ښکته اېښودل په کار دي، دواړه طریقې جائز دي.

* د لمانځه خشوع سره مناسبه داده چې لاسونه د سیني او خېټې ترمینځ کېښودل شي.

* پاتې شوه دا چې لاسونه د سیني له پاسه اېښودل څنګه دي؟ نو امام احمد بن حنبل رحمه الله دې ته مکروه ویلي دي، ځکه چې دا ثابت نه دي، بل دا چې دا یو قسم تکلف او مبالغه ده.

***

## په لمانځه کې به سترګې کوم ځای ته نیسي

* لمونځ کوونکی به د قیام په حالت کې خپلې سترګې د سجدې ځای ته نیسي، که چېرې د سجدې له ځای نه بل ځای ته وګوري، نو د سنت خلاف یې وکړ، او که اسمان ته یې وکتل نو حرام کار یې وکړ.

* د دواړو سجدو تر مینځ او تشهد ته د ناستې په وخت کې د فقهاوو اختلاف دی، ځیني وایي چې: د لمانځه په ټول حالت کې به د سجدې ځای ته ګوري، ځیني بیا په دې نظر دي چې د تشهد په حالت کې به د شهادت ګوتې ته سترګې نیسي. په دې مسأله کې توسع ده، د لمونځ کوونکي خوښه چې د سجدې ځای ته ګوري او که د شهادت ګوتې ته. په دې مسأله کې کوم صحیح حدیث ثابت نه دی.

***

## د استفتاح (د لمانځه د پیل) دعاء:

* د لمانځه د پیل په اړه په احادیثو کې څو ډوله دعاګانې راغلي دي: له هغو نه هره یوه یې چې وویل شي جائز ده، ولې بهتره دا ده چې تنوع پکې وکړي (کله یوه دعا او کله بله دعا

Download From; Aghalibrary.com

ووايي) او زياتره د عمر په روايت چې کومه دعا راغلې ده هغه لوستل په کار ده، دا د امام أحمد رحمه الله او د نورو أئمه وو مذهب هم دی.

ابن تيميه رحمه الله وايی: (أكثر السلف يستفتحون به). [مجموعة الفتاوى لشيخ الإسلام] ژباړه: ګڼ شمېرسلفو به د عمر رضي الله عنه په روايت کې راغلې دعا لوستله.

۞ د استفتاح دعاګانې:

١- مسلم شريف کې حديث دی چې: (أن عمر بن الخطاب كان يجهر بهؤلاء الكلمات، يقول: سبحانك اللهم وبحمدك, وتبارك اسمك, وتعالى جدك, و لا إله غيرك).

ژباړه: عمر رضي الله عنه به د «دعاء الاستفتاح» کلمات په جهر لوستل، ويل به يې: ای الله! تا په پاکي سره يادوم او ستا ستاينه کوم، او مبارک دی نوم ستا، او لوی دی شان او شوکت ستا، او بې له تا نه بل هيڅوک د بنده ګۍ وړ نه شته.

دا حديث اګر که په عمر باندې موقوف دی، خو د مرفوع حکم لري.

٢- په صحيحينو کې د أبو هريرة په روايت حديث دی چې: (كان الرسول ﷺ يسكت بين التكبير وبين القراءة اسكاتة -قال: احسبه قال: هنية- فقلت بأبي و أمي يا رسول الله, اسكاتك بين التكبير و القراءة, ماتقول؟ قال: أقول: "اللهم باعد بيني وبين خطاياي كما باعدت بين المشرق والمغرب, اللهم نقني من الخطايا كما ينقى الثوب الأبيض من الدنس، اللهم اغسل خطاياي بالماء, والثلج, والبرد".

ژباړه: ابوهريرة فرمايی: رسول الله ﷺ به د تکبير او قرائت ترمنځ لږ شان چوپ (خاموش) پاتې کېده. ما ورته وويل: ای د الله رسوله! مور پلار مي درنه قربان شه! ته د تکبير تحريمه او قرائت (سورة فاتحه) تر منځ خاموش پاتې کېدو پر مهال څه وايي؟ رسول الله وفرمايل: زه دا دعا وايم: (اللهم باعد...) ای الله! زما او زما د ګناهونو تر منځ دومره لرې والی راولې، لکه څنګه چې دې د مشرق او مغرب په منځ کي لرې والی راوستی دی، ای الله! ما له خپلو ګناهونو نه داسې پاک کړې، لکه څنګه چي سپينه جامه له خيرو نه پاکه کړی شي، ای الله! ما له ګناهونو نه په واوره، او اوبو او ږلۍسره ووينځې.

٣- په صحيح مسلم کې له علي بن أبي طالب نه روايت دی، هغه له رسول الله ﷺ نه نقل کوي: (أنه كان إذا قام إلى الصلاة قال: إني وجهت وجهي للذي فطر السماوات والأرض حنيفا, وما أنا من المشركين، إن صلاتي, ونسكي, ومحياي, ومماتي لله رب العالمين, لا

Download From; Aghalibrary.com

شريك له, و بذلك أمرت,و أنا من المسلمين,اللهم أنت الملك لا إله إلا أنت ربي, وأنا عبدك ظلمت نفسي,واعترفت بذنبي,فاغفرلي ذنوبي جميعا, إنه لايغفر الذنوب إلا أنت, واهدني لأحسن الأخلأق لايهدي لأحسنها إلا أنت,واصرف عني سيئها لايصرف عني سيئها إلا أنت, لبيك وسعديك والخير كله في يديك, والشر ليس إليك, أنا بك وإليك, تباركت وتعاليت,أستغفرك وأتوب إليك".

ژباړه: د الله پيغمبر به چې كله لمانځه ته ودريد، نو ويل به يې: ما خپل مخ هغه ذات طرف ته ګرځولی دی، چې آسمانونه او زمكه يې پيدا كړی دي، په داسې حال کې چې د حق دين مل يم، او نه يم له مشركانو نه، په رښتيا سره زما لمونځ، قرباني، ژوند، او مرګ يوازې د همغه الله لپاره دی، چې د مخلوقاتو پروردګار دی، شريک نه لري، او په دې باندې زه مامور شوی يم، په داسې حال کې چې زه له مسلمانانو څخه يم، ای الله! ته پادشاه يې، بی له تا نه بل د عبادت وړ معبود نشته، ته زما پروردګار يې، او زه دې بنده يم، په خپل ځان مې ظلم كړی، او په خپله ګناه اقرار كوم، بې له تا نه بل هيڅوک زما ګناهونه نشي بخښلی، د ښو اخلاقو هدايت راته وكړې، يوازې ته يې چې د ښو اخلاقو په لورې ښودنه كوې، او بد اخلاق را څخه لرې كړې، بد اخلاق را نه يوازې ته لرې كولای شې، ستا دعوت مې قبول كړ، او ستا خدمت ته ولاړ يم، خير ټول ستا په لاسونو كي دی، او شر ستا لپاره شر نه دی، او په تامې تكيه ده، او تاته به درځم، ته بركت والا يې، او اوچت يې له تا نه بخښنه غواړم، او تا ته توبه وباسم.

* د استفتاح دعا په پټه ويل مشروع (جائز) دي او په دې د درستو علماوو اجماع ده.

او دا چې عمر رضي الله عنه په جهر سره ويلې، نو هغه د تعليم لپاره وه، ترڅو خلكو ته دا دعا وښايي، ابن قدامه رحمه الله وايي: امام أحمد رحمه الله ويلي دي: لايجهر الإمام بالافتتاح.

ژباړه:امام به د استفتاح دعا په جهر سره نه وايي.

او دا د عامو علماوو وينا هم ده، ځكه چې نبي عليه الصلاة والسلام په جهر سره نه ده ويلې، بلكې عمر رضي الله عنه خلكو ته د تعليم په خاطر په جهر سره ويلې ده. [المغني ٥١٨/١]

***

له سورت څخه وړاندې اعوذ بالله لوستل

* استعاذه (أعوذ بالله من الشيطان الرجيم) ويل سنت دي، الله تعالی فرمايي: (فإذا قرأت القرآن فاستعذ بالله). [النحل: ٩٨]

* لمونځ کوونکي ته په کار ده چې په هر رکعت کې اعوذ بالله ووايي، يوازې اول رکعت پورې خاص نه ده.

۞استعاذه(اعوذ بالله) په آحاديثو کې په مختلفو الفاظو راغلې ده:

١- أعوذ بالله من الشيطان الرجيم. ژباړه: زه له رټل شوي شيطان نه په الله تعالی پورې پناه نيسم.

٢-أعوذ بالله السميع العليم من الشيطان الرجيم. ژباړه: زه له رټل شوي شيطان نه په هغه الله پورې پناه نيسم چې اوريدونکی او پوه ذات دی.

٣- أعوذ بالله السميع العليم من الشيطان الرجيم من همزه، ونفخه، ونفثه.

ژباړه: زه د رټل شوي شيطان له پوکولو، توکولو او وسوسو اچولو نه په هغه الله پورې پناه نيسم چې اورېدونکی او پوه ذات دی.

* له ذکر شويوو الفاظو نه چې هر يو يې ولوستل شي جائز دي، ليکن بهتره دا ده چې اکثر اوقاتو کې أعوذبالله من الشيطان الرجيم ولولي، ځکه چې دا د سورت نحل د آيت کريمه الفاظو سره موافقه ده، او دغه نور ذکر شوي الفاظ هم په صحيحو أحاديثو کې راغلي دي.

* غوره داده چې أعوذ بالله په پټه ولوستل شي جهري لمانځه کې وي او که خفيه کې.

***

تسميه (بسم الله ويل):

* له أعوذ بالله نه وروسته او له سورت فاتحې نه مخکې بسم الله الرحمن الرحيم لوستل مشروع دي، د أبو هريرة په حديث کې راغلي دي: (أنه صلّى و قرأ بسم الله الرحمن الرحيم، ثم قال: إني لأشبهكم صلاة برسول الله ﷺ). [صحيح ابن خزيمة برقم: ٦٨٨]

ژباړه: ابو هريرة رضي الله عنه لمونځ وکړ، نو بسم الله الرحمن الرحيم يې ولوستله، بيايې وويل: تاسې کې زما لمونځ د رسول الله ﷺ «دلمانځه» سره ډير مشابه دی.

* بسم الله په جهر سره ويل نشته، ځکه چې د رسول الله ﷺ څخه نقل نه ده، ليکن د مصلحت په خاطر که په جهر وويل شي، د مثال په ډول د خلکو د تعليم لپاره، يا د سنتو اشاعت يې مقصد وي، يا جهر سره ويل يې د خلکو زړونه لمونځ او دين طرف ته مائل کوي. نو بيا څه پروا نه کوی. دا د امام أحمد رحمه الله او نورو أئمه ؤو څخه نقل دي.

* بسم الله د قرآن کريم له آيتونو څخه يو آيت دی، په سورت نمل کې د الله جل جلاله ارشاد دی چې: (إنه من سليمان وإنه بسم الله الرحمن الرحيم) [النمل:30]

* د سورت انفال او سورت توبه تر منځ بسم الله الرحمن الرحيم لوستل ثبوت نه لري، له دې دوه ځايونو پرته بسم الله يو مستقل آيت دی، خو د هر سورت آيت نه ګڼلی کېږي، بلکې د سورتونو تر منځ د فاصلې او تبرک په خاطر د هر سورت په پيل کې راوړل شوې ده.

## سورت فاتحه لوستل

* سورت فاتحه لوستل د امام او منفرد (يوازې لمونځ کوونکي) لپاره رکن دی.

* د جمهورو صحابه کرامو او تابعينو په آند سورت فاتحه د لمانځه له ارکانو څخه يو رکن دی، پرته له سورت فاتحې لمونځ نه صحيح کېږی، که يو څوک په هيره يا قصدا سورت فاتحه ونه لولي، لمونځ يې باطل دی. دليل يې: د عبادة روايت دی چې: (لا صلاة لمن يقرأ بفاتحة الكتاب). [متفق عليه] چاچې په لمانځه کې سورة فاتحه ونه لوستله، لمونځ يې نه صحيح کېږي.

او د ابوهريرة په حديث کې راځي: (من صلى صلاة لم يقرأ فيها بأم القرآن فهي خداج). [نقله الالباني في صحيح ابي داود وحكم عنه بانه صحيح]

چاچې لمونځ وکړ او سورت فاتحه يې ونه لوسته نو لمونځ يې پوره نه دی.

که يو چا ته سورت فاتحه ياده نه وي نو زده کول يې ورباندې واجب دي، ځکه په فقه کې يوه قاعدة ده چې: (ما لايتم الواجب إلا به فهو واجب). کوم شی چې له هغه پرته واجب نه پوره کېږي، نو د هغه څيز ترلاسه کول يا زده کول هم واجب دی. يو څوک چې د سورت فاتحې د زده کولو توان نه لري، لکه د بوډاوالي له کبله يا نور لاملونه وي نو په دغسې حالت کې د سورت فاتحې په اندازه اووه (٧) آيتونه لوستل واجب دي او که اووه آيتونه يې هم نشو لوستلی نو بيا به دغه لاندېنی پنځه دعاګانې لولي:

١- سبحان الله. ٢- و الحمد لله. ٣- ولااله الاالله.

۴- والله أكبر.    ۵- ولاحول ولاقوة الا بالله العلي العظيم.

قرائت په ټيټ يا په لوړ آواز لوستل

* د سهار لمونځ همدارنګه د ماښام او ماخوستن اولني دوه رکعته د امام لپاره په جهر(لوړ آواز) لوستل واجب دي، دليل يې: نبي عليه الصلاة و السلام جهري لمونځونه هميشه په جهر سره کړېدي او خفيه يې په خفيه او پټه کړېدي، نو دنبي صلی الله عليه وسلم دا مواظبة (هميشوالی) په وجوب باندې دليل دی، او د أمت عمل پرې هم دليل دی.

* واجب قرائت يا ذکر باندې چې تر څو ژبه نه وي خوځيدلي نه صحيح کېږي، يعني له خولې خوزلو نه پرته ځان سره قرائت يا ذکر نه صحيح کېږي.

* پاتې شو قرائت په جهر يا خفيه ويل دی د دې حکم جلا دی.

* ابن تيمة رحمه الله فرمايي: (يجب تحريك لسانه بالذكر الواجب في الصلاة من القراءة وغيرها مع القدرة) ژباړه: لمونځ کوونکي باندې واجب دي چې په لمانځه کې واجب ذکر او قرائت باندې ژبه و خوځوي.

* اصل کې د ماسپښين او مازديګر په لمانځه کې قرائت په پټه لوستل په کار دي، ليکن کله کله يو آيت په جهر سره ويل د امام لپاره مستحب دي، په دی خاطر چې مقتديان يې واوري که څوک غافل وي نو متوجه به شي، کېدی شي نور حکمتونه به هم پکې وي. دليل يې د ابوقتادة هغه روايت دی چې وايي: (كان رسول الله ﷺ يصلي بنا، فيقرأ في الظهر-في الركعتين الأوليين- بفاتحة الكتاب وسورتين ويُسمعناالآية أحيانا، ويطول الركعة الأولى، ويقرأ في الآخرتين بفاتحة الكتاب). [متفق عليه]

ژباړه: رسول الله ﷺ به چې مونږ ته د جماعت لمونځ را کولو، نو د ماسپښين اولنيوو دوه رکعتونو کې به يې سورت فاتحې سره دوه سورتونه نور لوستل، او کله کله به يې يو آيت را اورولو هم، اول رکعت به يې اوږدولو او په وروستنيوو دوه رکعتونو کې به يې يوازې فاتحه لوستله.

* مقتدی لپاره په جهري لمانځه کې سورت فاتحه او نور سورتونه لوستل نشته، بلکی امام ته به غوږ نيسي، په ټولو جهري لمونځونو کې همدا حکم دی، فرضي وي (لکه دسهار، ماښام، ماخوستن لمونځونه) او که نفلي وي (لکه تراويح) وغيره، دا د جمهور علماؤ قول دی. ابن

تیمیة رحمه الله وایي: (المقصود بالجهر استماع المأمومین). [مجموع الفتاوی ۲۳/۲۸۹]
ژباړه: قرائت په جهر سره ویلو مقصد مقتدیانو ته قرائت اورول دي، چې له امام څخه یې واوري، کله چې مقتدی هم قرائت کوي نو د امام قرائت اوریدو څخه بی برخې کېږي نو له دې کبله په جهري لمونځونو کې د مقتدي لپاره قرائت نشته.

***

## له سورت فاتحې نه وروسته آمین ویل:

* علماء په دې متفق دي چې منفرد (یوازې لمونځ کوونکي) او مقتدي (امام پسې لمونځ کوونکي) لپاره آمین ویل سنت دي، منفرد به له سورت فاتحه څخه وروسته آمین وایي، او مقتدي به یې له امام د قرائت څخه وروسته وایي.

* د امام لپاره له سورت فاتحې نه وروسته آمین ویل مشروع دي.

* امام او مقتدی دواړو ته په جهر سره آمین ویل سنت دي، غوره دا ده چې مقتدي له امام سره سمدستي آمین ووایي کله چې امام ولا الضالین وایي نو امام او مقتدي دواړه به یو ځای آمین وایي، دلیل: د ابوهریره په روایت کې راځي: (أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: إذا أمن الإمام فأمنوا، فإنه من وافق تأمينه تأمين الملائكة غفر له ماتقدم من ذنبه).[متفق علیه].

ژباړه: نبي علیه الصلاة والسلام فرمایلي دي کله چې امام آمین ووایي تاسو هم آمین ووایي، بېشکه د ملائکو آمین سره چې د چا آمین برابر شي نو مخکني ګناهونه به یې وبښل شي.

* امام بخاري رحمه الله په خپل کتاب صحیح البخاری کي باب تړلی دی چې: (باب جهرالمأموم بالتأمين) بیا یې حدیث راوړی دی، وایي: (قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إِذَا قَالَ الْإِمَامُ: غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ، فَقُولُوا: آمِينَ).

ژباړه: کله چې امام غیر المغضوب علیهم ولا الضالین ووایي نو تاسې آمین ووایئ.

* ابن تیمیة رحمه الله وایي: "ټول نصوص (د حدیث الفاظ) په دې دلالت کوي چې نبي صلى الله عليه وسلم آمین په لوړ اواز ویلی دی، او مقتدیانو ته یې امر کړی چې له امام سره آمین ووایي، ظاهره دا ده چې صحابه وو د رسول الله صلى الله عليه وسلم په شان آمین ویلو، آمین د صحابه وو په اړه ډېر مؤکد دی، ځکه چې هغوی ته په آمین ویلو أمر شوي ؤ، هر کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم

آمين په جهر سره ويلی دی، نو مقتدي خو به په طريقه اولی په جهر سره ويلی وي، صحابه وو د مذکور حديث نه دا فهم اخستی چې آمين په لوړ اواز سره ويل په کار دي او په دې يې اجماع کړېده. اسحاق بن راهويه رحمه الله له عطاء څخه نقل کوي چې هغه ويلي دي: ما دوه سوه صحابه کرام ميندلي چې امام به کله ولا الضالين ووايه نو له هغوي څخه مې په لوړ غږ آمين واوريده، عکرمة وايي: (أدركت الناس في هذا المسجد ولهم ضجة بآمين)، ما په دې مسجد کې صحابه وميندل چې په لوړ غږ يې آمين ويلو. اسحاق رحمه الله وايي: (كان أصحاب النبي ﷺ يرفعون أصواتهم بآمين حتى يسمعوا للمسجد رجة) صحابه وو به په لوړ اواز آمين ويلو تر دې چې جمات به ولړزيدو".

***

## له سورت فاتحې څخه وروسته قرائت لوستل:

* سنت طريقه داده چې لمونځ کونکی د سورت فاتحې له لوستلو نه وروسته په ړومبنيوو دوه رکعتونو کی سورت ولولي او بس.

دليل: د ابوقتاده حديث دی چې: (كان رسول الله ﷺ يصلي بنا، فيقرأ في الظهر والعصر- في الركعتين الأوليين- بفاتحة الكتاب وسورتين, ويُسمعنا الآية أحيانا, و يطول الركعة الأولى و يقرأ في الأُخريين بفاتحة الكتاب). [متفق عليه]

ژباړه: ابوقتاده وايي: مونږ ته به رسول الله ﷺ د ماسپښين او مازديګر لمونځ راکولو، لومړنيو دوه رکعتونو کې يې سورت فاتحه او دوه نور سورتونه لوستل، کله کله به يې يو، نيم آيت مونږ ته هم را اورولو، اول رکعت به يې د دويم رکعت په نسبت لږ اوږدولو، په وروستنيو دوه رکعتونو کې به يې يوازې سورت فاتحه لوستله.

*ابن قدامه رحمه الله وايي: (لانعلم بين أهل العلم خلافاً في أنه يُسن قراءة سورة مع الفاتحة في الركعتين الأوليين من كل صلاة ويجهر فيما يجهر فيه بالفاتحة، ويُسر فيمايسربها فيه). [المغني]

ژباړه: په هر لمانځه کې په اولنيوو دوه رکعتونو کې له سورت فاتحې سره بل سورت ويل سنت دي، په دې خبره مونږ ته دعلماوو تر منځ کوم اختلاف معلوم نه دی. کوم ځای چې فاتحه په جهر لوستل په کار وي هلته يې بايد په جهر ولولي او چيرته چې خفيه لوستل کيږي نو هلته يې خفيه لوستل په کار دي.

* په څلور رکعتي او درې رکعتي لمونځونو کې اصل دا دی چې درېیم او څلورم رکعت کې له سورت فاتحې نه وروسته قرائت نشته، خو که ځینې وخت یې څوک ووایي نو څه پروا نه کوي.

* امام لپاره مستحبه داده چې د جمعې په ورځ د سهار په لمانځه کې سورت سجده او سورت الانسان (الدهر) همیشه ووایي، د ابو هریره په حدیث کې راځي، هغه وایي (كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَقْرَأُ فِي الجُمُعَةِ فِي صَلاَةِ الفَجْرِ {الم. تَنْزِيلُ} [السَّجْدَةَ]، و{هَلْ أَتَى عَلَى الإِنْسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ} [الإنسان]) [رواه البخاري] وللطبراني من حديث ابن مسعود:(يديم ذلك).

ژباړه: رسول الله ﷺ به د جمعې په ورځ د سهار په لمانځه کې (الم تنزیل) او (هل اتی علی الإنسان) سورتونه لوستل، په طبرانی کې د ابن مسعود په روایت کې راځي چې دا به یې همیشه لوستل.

* د جمعې په ورځ د دغو دوه سورتونو په لوستلو کې حکمت دا دی چې: په دواړو کې د آدم علیه السلام د تخلیق او قیامت بحث دی، آدم علیه السلام د جمعې په ورځ پیدا شوی او قیامت به هم د جمعې په ورځ قائمیږي، دسجدې په خاطر یې لوستل مقصود نه دي، سجده پکې اتفاقا راغلې ده، اصلا په دغو سورتونو کې امت ته د قیامت یادونه راغلې ده.

ابن القیم رحمه الله ویلي دي: د جمعې په سهار کې له دغو سورتونو څخه صرف د سجدې آیت لوستل مستحب نه دي، بلکی دغه دوه ذکر شوي سورتونه لوستل مقصود دي، سبب یې دا دی چې په دې کې د انسان د پیدایښت او قیامت د حالاتو تذکره شوې ده دانسان پیدایښت د جمعې په ورځ شوی دی او قیامت به هم د جمعې په ورځ وي، نو د دې سورتونو په لوستلو کې امت ته د قیامت یادونه ده، د سجدې پخاطر لوستل یې مقصود نه دي چا چې سورت سجده ونه لوستله په هغه لازم نه دي چې د سجدې پخاطر له بل سورت نه د سجدې آیت ولولي).

***

## قرائت اوږدول

* سنت طریقه دا ده چې لمونځ کونکی سورت بشپړ ولولي او همدغه طریقه د نبي علیه الصلاة والسلام نه نقل ده.

* که چېرته د سورت له ړومبنۍ برخې نه څه حصه ولوستله شي په اتفاق د علماوو سره صحيح ده او کوم کراهت نه لري، ځکه نبي کريم ﷺ سورت مؤمنون لوستله کله چې د موسى او هارون عليهما السلام واقعې ته ورسيد، ټوخى ورغى نو رکوع ته ښکته شو.

همدارنګه رسول الله ﷺ د ماښام په لمانځه کې سورت أعراف لوستلې ده، نو ښکاره خبره ده چې څه برخه به يې په ړومبي رکعت کې لوستلي وي او پاتې په دويم رکعت کې. دا په دې خبره دليل دى چې په يو رکعت کې د سورت يوه برخه لوستل مکروه نه دي. د جبير بن مطعم په روايت کې راځي وايي چې: (سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِالطُّورِ). [رواه البخاري]

ژباړه: ما له رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې د ماښام په لمانځه کې يې سورت طور ولوست.

همدارنګه د سورت له وروستۍ برخې نه قرائت لوستل هم جواز لري، خو ورباندې هميشوالى کول مکروه دي، ځکه چې دا د رسول الله د سنت په خلاف باندې هميشوالى دى، سنت طريقه دا ده چې سورت مکمل ولوستلى شي يا له ړومبۍ برخې څخه ولوستل شي.

ابن قدامه رحمه الله وايي: (المنقول عن النبي ﷺ قراءة السورة او بعض سورة من أولها).

ژباړه: د نبي کريم ﷺ څخه مکمل سورت يا د سورت ړومبۍ برخې لوستل نقل دي.

* سنت طريقه داده چې د ماښام په لمانځه کې له قصارالمفصل سورتونو څخه يو سورت ولولي چې هغه د سورة «الضحى» نه نيولي تر سورة «الناس» پورې دي, او د سهار په لمانځه کې دې له طوال المفصل سورتونوڅخه يو سورت لولي، چې هغه د سورة «ق» نه نيولى تر سورة «النبأ» پورې دي. او د ماخوستن، ماسپښين او مازديګر لمونځونو کې دې له اوساط المفصل سورتونو څخه کوم سورت ولولي چې هغه له سورت «النبا» نه نيولي تر سورة «الضحى» پورې دي.

دليل يې: د ابوهريرة حديث دى چې: (أَنَّهُ قَالَ: مَاصَلَّيْتُ خَلْفَ رَجُلٍ أَشْبَهَ صَلَاةً بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ فُلَانَ، قَالَ: وَ كَانَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْر بِطِوَالِ الْمُفَصّلِ، وَفِي الْمَغْرِبِ بِقِصَارِ الْمُفَصّلِ، وَ فِي الْعِشَاءِ بِأَوْسَاطِ الْمُفَصّلِ).

ژباړه: ما له فلاني سړي نه پرته بل داسې څوک نه دى ليدلى چې لمونځ يې د رسول الله ﷺ لمانځه ته ډېر ورته وي ـــ راوي سليمان بن يسار -وايي: دغه سړي به د سهار په

لمانځه کې له طوال المفصل سورتونو څخه يو سورت لوسته، په ماښام کې به يې له قصارالمفصل څخه يو سورت لوسته او په ماخوستن کې به يې اوساط المفصل سورتو نه لوسته.

بل دليل: أمير المؤمنين عمربن الخطاب ابو موسى اشعري ته يو مکتوب وليږه چې ورته ليکلي يې وو: (واقْرأْ في الظهر من أوساط المفصل). ()

ژباړه: د ماسپښين په لمانځه کې اوساط المفصل سورتونه لوله.

* که امام په لمانځه کې اوږد سورت لوستل وغواړي نو د لمانځه نه مخکې مقتديان خبرول ضروري نه دي، لکه نن سبا يې چې ځيني خلک اعلانوي، په کومو احاديثو کې چې د رسول الله ﷺ قرائت نقل شوی دی، په يوه حديث کې هم دا نه دي راغلي چې رسول الله ﷺ به صحابه کرام خبرول چې نن به فلانی او فلانی سورت لولم!، سره له دې چې ځيني صحابه کرام به رسول الله سره يو ځای جومات ته داخل شوي وو، هغوی ته ضرورت پيښنيدای شو، خو بيا هم نبي عليه الصلاة والسلام ورته کوم خبرداری نه دی ورکړی چې زه نن يو اوږد سورت لوستل غواړم.

د دې پر ځای بايد خلکو ته د لمانځه احکام او سنت طريقي وښودلی شي، هغه دا چې کله کوم انسان ته د لمانځه په دوران کې ضرورت پيښ شي نو کولای شي چې له امام څخه جلا شي او يوازې لمونځ پوره کړي، او په دې کې کوم باک نشته.

دليل: معاذ پسې چې کومو صحابه کرامو لمونځ کاوه، هغوي به چې کله پوه شول چې معاذ سورت بقره لولي نو د جماعت لمانځه نه به ووتل او ځانله به يې لمونځ کولو، نو مونږ ته هم په کار دي چې سنت طريقي خپرې کړو او خلکو ته يې واضحې کړو.

* مصنف حفظه الله وايي: زما په نظر سورت طور او سورت اعراف د ماښام په لمانځه کې په دې عقيده لوستل چې دغه سورتونه بالذات مقصود دي، يا د قُرب په نيت لوستل يې کوم مشروعيت نه لري، ځکه ظاهره دا ده چې د ماښام په لمانځه کې سورت اعراف لوستل د نبي عليه الصلاة والسلام بالذات مقصود نه ؤ، بلکې قصد يې دا ؤ چې اوږد سورت ولولي، مطلب دا چې د احاديثو نه دا نه واضحه کيږي چې دغه دوه سورتونه د ماښام په لمانځه کې ويل بالذات مقصود دي، لکه څنګه چې د ځينو سورتونو لوستل مقصود دي لکه د جمعې په ورځ د سهار په لمانځه کې سورت «السجدة» او سورت «الدهر» يا د جمعې او اختر په لمونځونو کې سورة «الأعلى» او سورت «الغاشية» لوستل چې بالذات مقصود دي.

* امام ته په کار دي چې په لمانځه کې ړومبی رکعت اوږد کړي، تر څو ډېر کسان په کې برخه واخلي او په دې کې د خلکو لحاظ ساتل هيڅ باک نه لري. دليل يې: د قتادة روايت دی چې: (يطول في الركعة الأولى) ژباړه: نبي کريم ﷺ به ړومبنی رکعت اوږدولو. مطلب دا چې نبي عليه الصلاة والسلام به د مقتديانو لحاظ ساته، د دې معنی تاييد د دغو لاندېنيو دوه حديثونه څخه هم په لاس راځي چې:

١- (أن النبي ﷺ كان إذا سمع بكاء الصبي تجوّز في الصلاة). []

ژباړه: نبي عليه الصلاة والسلام به چې کله د ماشوم ژړا واوريده نو لمونځ به يې را لنډ کړ.

٢- (أن النبي ﷺ كان يصلي الظهر بالهاجرة، والعصرَ والشمسُ نقية، والمغربَ إذا وجبت والعِشاءَ أحيانا، إذا رآهم اجتمعوا عجل وإذا رآهم أبطؤوا أخر ). [رواه البخاري]

ژباړه: نبي عليه الصلاة والسلام به د ماسپښين لمونځ په ټکنده غرمه کې کاوه او مازديګر يې داسې مهال کاوه چې لمر به روښانه ؤ او ماښام به چې کله داخل شو او ماخوستن به يې چې کله خلک راټول وليدل نو رامخکې کاوه به يې او چې مقتديان به يې سست وليدل نو - لمونځ- يې هم ووروسته کاوه.

د دغو دوه حديثونو څخه څرګنده شوه چې د مقتديانو د حال خيال ساتل، کوم شرعي ممانعت نه لري.

* د قرائت او رکوع ترمنځ لنډه سکته (لږ شيبه چوپ ودرېدل) سنت دي. حديث شريف کې راځي: (أن النبي ﷺ كان يسكت قليلا قبل أن يركع). [] ژباړه: نبي عليه الصلاة والسلام به رکوع ته له تللو نه مخکې لږ شيبه چوپ پاتې کېدو.

* د دې سکتې کومه اندازه په احاديثو کې نه ده راغلې. ابن قيم رحمه الله وايي: اندازه يې د لوستونکي تنفس پورې اړه لري. [] نومعلومه شوه کوم امامان چې د رکوع تکبير فوراً له قرائت سره وصل کوي نو دا د سنت خلاف دی، امام أحمد رحمه الله ورته مکروه ويلي دي. []

### له تکبير تحريمه نه علاوه نور ټول تکبيرونه

* له تکبیر تحریمه نه علاوه نور ټول تکبیرونه (تکبیرات الانتقال) واجب دي، ځکه چې رسول الله ﷺ خپله تکبیر ویلی دی، صحابه وو ته یې أمر کړی او په تکبیراتو یې مداومت «همیشهوالی» هم کړی دی.

نبي کریم ﷺ فرمايي: (صلُّوا كما رأيتُموني أُصلِّي). [رواه البخاري]

هغسي لمونځ وکړئ څنګه مو چې زه په لمونځ کولو لیدلی یم.

په بل حدیث کې راځي: (فإذا كَبَّر فكبِّروا). [متفق عليه]

کله چې امام «الله أکبر» ووايي نو تاسو يې هم ووایئ. په دې حدیث کې نبي علیه الصلاة والسلام په الله أکبر ویلو أمر کړی دی.

تکبیرات الانتقال که څه هم واجب دي خو د سهوې -کله چې درنه هېرشي- په حالت کې ساقطیږي، یعنې په سجده سهوې سره جبیره کیدلی شي.

* بهتره دا ده چې «الله أکبر» ویل د انتقال په شروع سره پیل او په ختمیدو سره یې ختم شي. دا هم جائز ده چې «الله أکبر» ووایي او بیا رکوع یا سجدې ته ښکته شي او دا هم جائز دي چې د تکبیر ځینې برخه له رکوع نه وروسته پوره کړی شي، ځکه د انتقال اول او آخر دقیق حسابول مشکل دي.

***

## رکوع:

* د فقهاء کرامو په اتفاق سره په هر رکعت کې رکوع کول د لمانځه له ارکانو څخه حسابیږي او په هیره یا قصداً پرېښودلو سره یې لمونځ باطلیږي.

د رکوع په رکنیت باندې دلیل: نبي علیه الصلاة والسلام یوه صحابي ته لمونځ ښودلو نو ورته ویې ویل: (ثم اركَعْ حتَّى تَطمَئِنَّ راكِعًا). [متفق عليه]

بیا په اطمینان «آرام» سره رکوع وکړه.

الله تعالی فرمايي: (اِركعوا واسجدوا). [الحج:٧٧]

ای مؤمنانو! رکوع او سجده وکړئ.

* څوک چې رکوع کوي نو سنت طریقه دا ده چې له تکبیر (الله أکبر) ویلو سره لاسونه پورته کړي. د ابن عمر رضي الله عنهما روایت دی چې: (أن النبي ﷺ کان یرفع یدیه إذا استفتح الصلاة و إذا رکع، وإذا رفع من الرکوع). [متفق علیه]

ژباړه: نبي کریم ﷺ به د لمانځه په شروع، رکوع ته د ښکته کېدو پر وخت او له رکوع نه د پورته کېدو پر مهال لاسونه اوچتول.

د ساعدي په روایت کې هم راځي چې: (أن النبي ﷺ کان یرفع في هذه المواضع).()

نبي علیه الصلاة والسلام به په دغو مواردو کې لاسونه پورته کول.

قال الإمام البخاري: (یُروی عن سبعة عشر نفسا من أصحاب النبي ﷺ أنهم کانوا یرفعون أیدیهم عند الرکوع) ثم ذکرهم.

د امام بخاري وینا ده چې: د نبي ﷺ په صحابه کرامو کې له ۱۷ کسانو څخه نقل دي چې هغوي به رکوع ته د ښکته کېدو پر وخت لاسونه پورته کول. بیا یې دهغوي نومونه هم واخستل.

* رکوع ته د ښکته کېدو اندازه: رکوع ته به دومره اندازه ښکته کیږي چې دواړه لاسونه زنګنو سره ولګیږي، که چیرته دغومره اندازه ټیټ نه شي نو رکوع یې باطله ده، ځکه په دې صورت کې د رکوع واجبه اندازه نه ده پوره شوې.

* په رکوع کې سنت طریقه دا ده چې زنګنونه په لاسونو کلک ونیسي په داسې حال کې چې د لاسونو ګوتې به یې یو له بله جدا وي. په یو حدیث شریف کې په صحیح سند سره نقل دي چې: (أن النبي ﷺ کان یقبض علی رکبتیه). []

ژباړه: نبي علیه الصلاة والسلام به په رکوع کې خپل زنګنونه -په لاسونو- نیول. د أبو مسعود انصاري په روایت کې راځي: ( أن النبي ﷺ کان إذا رکع فرج بین أصابعه. () وهذا الحدیث فیه ضعف لکن له شواهد یقویه وهو حدیث وائل بن حجر: (أن النبي ﷺ کان إذا رکع فرج بین أصابعه وإذا سجد ضم أصابعه) [رواه الحاکم]

ژباړه: نبي علیه الصلاة والسلام به په رکوع کې ګوتې پراخې ساتلې. دا حدیث اګر که ضعیف دی لیکن د نورو شواهدو په مرسته یې قوت موندلی دی، چې له هغې جملې نه یو شاهد یې د وائل بن حجر روایت هم دی، وایي چې: نبي کریم ﷺ به په رکوع کې خپلې د

لاسونو ګوتې خلاصې ساتلې او د سجدې پر مهال به يې جوختولې. دغه روايتونه په مجموعي ډول په دې دلالت کوي چې زنګنونه په لاسونو نيول په داسې حال کې چې ګوتې خلاصې وي، سنت دي.

* اعتدال (نه ډېر ښکته کېدل او نه ډېر پورته کېدل) په رکوع کې مستحب دی.

دليل: د انس روايت دی چې: (أن النبي ﷺ قال: اعتدلوا في الركوع والسجود). [رواه النسائي]

ژباړه: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې په رکوع او سجده کې ځان برابر کړئ.

د اعتدال مزيد وضاحت د عائشي رضي الله عنها په روايت کې راځي چې: (أن النبي ﷺ كَانَ إِذَا رَكَعَ لَمْ يُشْخِصْ رَأْسَهُ).[أَخْرَجَهُ مُسْلِمٌ] أی: لم يخفضه ولم يرفعه.

ژباړه: نبي کريم ﷺ به په رکوع کې خپل سر مبارک نه ډېر ښکته کولو او نه به يې ډېر پورته کولو. يعني له ملا سره به يې برابر نيولو.

* د تېرو حديثونو نچوړ (لنډيز) دا دی چې: کله رکوع ته ښکته شې نو ملا به سمه کړې، سر به له ملا سره برابر ونيسې او په دواړو لاسونو به زنګنونه داسې کلک کړې چې ګوتې يوه له بلې څخه جلا وي، که چېرته رکوع په همدې شکل وشي نو دا به په سنت طريقې برابره رکوع وي.

* د «سبحان ربی العظيم» ويلو په مشروعيت کې د هيڅا اختلاف نشته، البته راجحه دا ده چې دا د لمانځه له واجباتو څخه دی، د حذيفه په روايت کې راځي چې: (و كان إذا ركع -أي النبي ﷺ- يقول: (سبحان ربي العظيم). [رواه مسلم]

ژباړه: رسول الله ﷺ به په رکوع کې «سبحان ربي العظيم» ويل. او دا په داسې حال کې چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (صلُّوا كما رأيتُموني أُصلِّي). [رواه البخاري] زه مو چې په کومه طريقه په لمانځه ليدلی يم په هماغه طريقه لمونځ وکړئ.

د عقبه بن عامر څخه روايت دی وايي: دا آيت چې کله نازل شو (فسبح باسم ربك العظيم) [الواقعه:٧۴]، نبي عليه الصلاة والسلام وفرمايل:(اجعلوها في ركوعكم) [] د دې حديث سند اګر که ضعيف دی، ليکن مخکې ذکر شوي صحيح آحاديث يې د اثبات لپاره کافي دي.

* په رکوع او سجده کې مستحبه دعاء: له عائشې رضي الله عنها څخه نقل دي وايي چې: رسول الله ﷺ به په رکوع او سجده کې دا دعا ويله چې: (سبوح قدوس رب الملائكة والروح). [رواه مسلم]

ژباړه: ډېر پاک دی ډېر مقدس دی د ملائکو او د روح پروردګار.

همدارنګه دا دعا ويل هم مستحب دی چې: (سبحان ذي الجبروت والملكوت والكبرياء والعظمة). [] ژباړه: د هغه ذات پاکي بيانوم چې د ډېر زور، پاچاهی، لويي او عظمت څښتن دی.

* په رکوع کې د تسبيح (سبحان ربي العظيم) ويلو واجبه اندازه يو ځلې ده، درې ځلې ويل يې د کمال ټيټه درجه ده، لس ځلې ويل يې د کمال بشپړه اندازه ده، په دې کې بيا دعلماوو درې اقوال دي:

لومړی قول: امام أحمد رحمه الله وايي: له حسن څخه نقل دي چې: د پوره تسبيحاتو اندازه اوهٔ (۷) ځلې ده، منځنۍ اندازه يې پنځه (۵) ځلې او کمه تسبيح درې (۳) ځلې ده.

دويم قول: د تسبيحاتو ويلو لپاره کومه ټاکلې اندازه نشته.

درېيم قول دا دی چې: د تسبيحاتو ويلو په مسأله کې توسع «پراختيا» ده، يعنې کله دې لږه اندازه وويلی شي او کله زيات. بيا هم، څوک يې کم وايي او که زيات، په آحاديثو کې د ادنی الکمال او اقصی الکمال کومه ټاکلې اندازه نه ده راغلې او همدا يې راجح قول دی.

له رکوع نه وروسته په اطمينان او اعتدال سره ودريدل:

* له رکوع نه تر پورته کېدو وروسته په اطمينان سره برابر ودريدل د لمانځه له ارکانو څخه يو رکن دی، نبي عليه الصلاة والسلام يوه صحابي ته د لمونځ ښودلو پر مهال وويل:(ثم ارفع حتى تعتدل قائما). [صحيح البخاري] بيا د رکوع نه سر پورته کړه، تر دې چې برابر ودرېږې.

* له رکوع نه پورته کېدل په اعتدال کې داخل دي، ځکه چې اعتدال (برابر ودريدل) له رکوع نه وروسته کيږي.

* د اعتدال مطلب دا دی چې: له رکوع نه بايد په داسې ډول پورته شي چې د ملا د تير (هډوکي) هر بند بيرته خپل ځای ته واپس شي او د أدنا درجې -يو ځلې- تسبيح ويلو په

اندازه ودرېږي. په يوه حديث شريف کې راځي چې: (أن النبي ﷺ كان إذا رفع من الركوع قام حتى يعتدل). ومعنى قام في الحديث أي: بقي قائما حتى يعتدل).

ژباړه: نبي کريم ﷺ به چې کله له رکوع نه پورته شو، نو برابر به ودريد. په دې حديث کې د «قام» معنی دا ده چې: له پورته کېدو وروسته به په خپلو ودرېدو باندې ډاډمن شو. اوس نو که يو څوک له رکوع نه په پورته کېدو سره سمدستي سجدې ته لاړ شي، نو په دې صورت کې ترې اعتدال بعد الركوع پاتې شو او هغه رکن دی، نو لمونځ يې نه کېږي.

ابو حميد د رسول الله ﷺ لمانځه طريقه داسې بيانوي:(فإذارفع رأسه استوى حتى يعود كل فقار مكانه) [رواه البخاري]

ژباړه: رسول الله ﷺ به چې کله له رکوع نه سر مبارک پورته کړ، نو برابر به ودرېد، تر دې چې د ملا د هډوکې هر بند به خپل ځای ته واپس شو.

عائشه صديقه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ د لمانځه په باره کې وايي: (كان إذا رفع رأسه من الركوع لم يسجد حتى يستوي قائما). [أخرجه مسلم]

ژباړه: نبي کريم ﷺ به چې کله له رکوع نه سر مبارک پورته کړ نو تر هغې به سجدې ته نه ښکته کېده چې په ولاړه به برابر شوی نه ؤ.

* کله چې له رکوع نه پورته شي نو د «سمع الله لمن حمده» په ويلو سره به دواړه لاسونه پورته کړي، څرنګه چې لږ مخکې د ابن عمر رضي الله عنهما په حديث کې يې يادونه وشوه.

د ابو حميد الساعدي په روايت کې راځي چې: (...ثم قال سمع الله لمن حمده ورفع يديه) [أخرجه البخاري] بيا يې «سمع الله لمن حمده» وويل او لاسونه يې پورته کړل.

او د ابن عمر رضي الله عنهما په روايت کې راځي چې: (ثم رفع رأسه ورفع يديه كذلك).

ژباړه: بيا يې له رکوع نه سر مبارک پورته کړ او لاسونه يې همدغسې اوچت کړل.

په بخاري شريف کې په دې الفاظو راغلي دي: (رأيت رسول الله ﷺ افتتح التكبير في الصلاة فرفع يديه حين يكبر حتى يجعلهما حذو منكبيه، وإذا كبر للركوع فعل مثل ذلك، و إذا

قال سمع الله لمن حمده فعل مثله، وقال:ربنا ولك الحمد، و لا يفعل ذلك حين يسجد، و لا حين يرفع من السجود).()

ژباړه:ابن عمر رضي الله عنهما وايي: ما رسول الله ﷺ وليد چې لمونځ يې په تكبير(الله أكبر) سره پيل كړ او د تكبير پر مهال يې لاسونه تر اوږو پورې پورته كړل، كله چې ركوع ته ښكته كېده بيا يې هم لاسونه تر اوږو پورته كړل، كله چې له ركوع نه پورته شو «سمع الله لمن حمده» ويلو سره يې هم لاسونه تر اوږو پورې اوچت كړل، سجدي ته د تللو پر مهال او له سجدې نه د پورته كېدو پر مهال يې لاسونه پورته نه كړل.

د(حين يكبر) او (و إذا قال سمع الله لمن حمده فعل مثله) څخه معلومه شوه چې د تكبير له پيل سره به لاسونه پورته كوی.

* له ركوع نه چې سر پورته كړي نو دا دعا به ووايي: « سمع الله لمن حمده» او ورپسې به ووايي چې: (اللهم ربنا لك الحمد مل ء السموات وملء الأرض، وما بينهما، وملءماشئت من شيء بعد، أهل الثناء والمجد، لامانع لما أعطيت، ولا معطي لما منعت، ولاينفع ذا الجد منك الجد). [رواه مسلم]

ژباړه:ای الله! ته زمونږ پروردګار يې، تالره پوره ستاينه ده، د آسمانونو او زمكي او د هغو تر منځ د مخلوقاتو د ډكوالي په اندازه، او په اندازه د ډكوالي د هغو شيانو چې تا ووروسته غوښتي دي، اې دستاينې او لويي خاونده! ته چې چاته څه وركړې، د هغه (څوک) بندوونکی نشته، او ته چې (له چانه) څه بند كړې، د هغه (څوک) وركوونكی نشته، او فائده نه كوي مالدار ته دهغه مال، ستا د عذاب لرې كولو كې.

۞ په احاديثو كې تحميد (ربنا لک الحمد) په مختلفو الفاظو راغلی دی:

١-ربنا لك الحمد. ای زمونږ پروردګاره! تا لره پوره ستاينه ده.

٢- ربنا ولك الحمد. (واو) پكې زيات دی.

٣- اللهم ربنا لك الحمد.

۴- اللهم ربنا ولك الحمد. (واو) پكې زيات دی.

بهتره داده چې لمونځ کونکی تنوع (کله یوه دعا لوستل او کله بله دعا) وکړي، ټول الفاظ صحي دي کوم یو چې وویل شي جائز دي، لیکن (اللهم ربنا لك الحمد) یا (ربناولك الحمد) اکثر اوقاتو کې ویل په کار دي، ځکه چې دا په أصح روایاتو ثابت دي.

* د قبض او ارسال مسئله

له رکوع نه وروسته په قومه کې بهتره دا ده چې لاسونه د نیت په شکل د نامه نه بره وتړل شي، که چېرته زوړند پرېښودل شي نو هم څه باک نه لري -إن شاءالله- په دې مسئله کې وسعت دی، ځکه چې په تعین باندې کوم صریح نص نه شته او دا د امام أحمد رحمه الله نه هم نقل دی.

***

سجده:

* سجدې ته چې ښکته کېږي، سنت طریقه دا ده چې «الله أکبر» ووایي او لاسونه پورته نه کړي.

په دې اړه له ابن عمر رضي الله عنهما څخه په دې الفاظو روایت نقل دی چې: (کان یرفع یدیه حذو منکبیه إذا افتتح الصلاة و إذا کبر للرکوع و إذا رفع رأسه من الرکوع، رفعهما کذلك أیضا و قال: «سمع الله لمن حمده ربنا ولك الحمد» و کان لایفعل ذلك في السجود).

ژباړه: رسول الله ﷺ به چې کله په لمانځه پیل کاوه، نو لاسونه به یې د اوږو تر برابرئ پورته کول او همدا راز، کله به یې چې رکوع ته ښکته کېدو لپاره تکبیر وایه. او کله به یې چې له رکوع نه سر مبارک را پورته کولو، نو لاسونه به یې د اوږو تر برابرئ پورته کړل او «سمع الله لمن حمده ربنا ولك الحمد» به یې وایه، خو سجدې ته د ښکته کېدو پر مهال به یې لاسونه نه پورته کول.

* پر لمونځ کوونکي واجب دي چې پر اوو اندامونو سجده وکړي.

د ابن عباس رضي الله عنهما په روایت کې راځي وایي چې: (أُمرنا بالسجود علی سبعة أعضاء: الیدین و الرکبتین و القدمین و الجبهة و أشار إلی أنفه). [متفق علیه]

ژباړه: مونږ ته حکم شوی چې پر اوو اندامونو سجده وکړو: په دواړو لاسونو، زنګنونو، قدمونو، تندي او پوزې ته یې اشاره وکړه -چې باید د تندي سره یې پر زمکه ولګوي-.

(دوه لاسونه، دوه زنګنونه، دوې پښې او تندی سره له پوزې) دا اووهٔ اندامونه شول.

* که چېرې د دغو اوو اندامونو څخه کوم يو پر زمکه ونه لګېده، نو سجده يې باطله ده، ځکه چې په رکن کې خلل راغی او سجده د لمانځه له أرکانو څخه ده. په سجده کې تندی او پوزه دواړه پر زمکه لګول واجب دي، که چېرته يوازې په تندي اکتفاء وکړي، نو سجده يې ناقصه ده. همدا راز که يوازې په پوزه اکتفاء وکړي او تندی ونه لګوي، نو د صحابه کرامو په اجماع سره يې سجده باطله ده () ځکه چې تندی اصل دی او دا ظاهر د حديث هم دی لکه چې مخکې تېر شو.

* سجدې ته د ښکته کېدو پر مهال به لومړی لاسونه لګوئ او که زنګنونه؟

کله چې لمونځ کونکی سجدې ته ښکته کېږي نو په کار ده چې خپل زنګنونه مخکې کړي بيا دې لاسونه ولګوي او که يې لاسونه مخکې ولګول، نو هم صحيح ده، په دواړو صورتونو کې لمونځ د علماوو په اتفاق سره صحيح دی، اختلاف په أفضليت کې دی، چې لومړی لاسونه لګول غوره دي او که زنګنونه؟ نو غوره دا ده چې لومړی زنګنونه ولګول شي او بيا لاسونه. دا د عمر بن الخطاب نه هم نقل دي او متبعه سنت دي، کېدی شي چې د رسول الله ﷺ نه يې هم اوريدلي وي، په هر حال په دې مسئله کې کوم صحيح مرفوع حديث نشته.

امام ترمذي رحمه الله وايي: و العمل عليه عند أكثر أهل العلم، يرون أن يضع الرجل ركبتيه قبل يديه، و إذا نهض رفع يديه قبل ركبتيه).( )

ژباړه: د اکثره علماوو په دې عمل دی. د دوی په اند لمونځ کوونکی بايد زنګنونه له لاسونو څخه مخکې ولګوي او کله چې -له سجدې نه- پورته کېږي، نو لاسونه له زنګونو څخه مخکې پورته کړي.

* په سجده کې مجافاة (متې له اړخونو نه جدا ساتل) مستحب دي او ځينې علماء ورته واجب وايي.

۞ د مجافاة پر سنتوالي دلائل:

۱ـــ د عبد الله بن بحينه په روايت کې راغلي دي چې: ( أن النبي ﷺ كان إذا صلى فرج بين يديه، حتى يبدو بياض إبطيه). [متفق عليه]

ژباړه: نبي کريم ﷺ به چې کله لمونځ کولو، نو لاسونه به يې د اړخونو نه دومره جدا ساتل چې د تخرګونو سپينوالی به يې ښکارېده. دا حديث په صحيحينو کې دی، د تخرګونو سپينوالی هغه وخت ښکاري چې کله متې له اړخونو نه پوره لرې وساتل شي. له دې کبله صحابه وو به د رسول الله ﷺ تخرګونه مبارک ليدل.

۲- عن أنس بن مالك عن النبي ﷺ قال: (اعتدلوا في السجود، ولايبسط أحدكم ذراعيه انبساط الكلب). [متفق عليه]

ژباړه: انس بن مالک له نبي کريم ﷺ څخه نقل کوي چې ويې فرمايل: تاسې په سجده کې اعتدال «ميانه روي» وکړئ او له تاسې نه دې څوک د سپی په شان خپلې څنګلې په زمکه نه خوروي.

په سجده کې له اعتدال کولو نه مطلب دادی: چې توسط بين الافتراش والقبض وکړئ، يعنې لاسونه (ورغوی) به پر زمکه کېږدئ او څنګلې به د زمکې نه اوچتې وساتئ اوخېټه به له ورون څخه ليرې کړئ.

۳- عن عائشة رضي الله عنها: (أن النبي ﷺ كان ينهى أن يفترش الرجل ذراعيه افتراش السبع). [أَخْرَجَهُ مُسْلِمٌ]

ژباړه: عائشه صديقه رضي الله عنها وايي: نبي کريم ﷺ به خلک له دې نه منعه کول چې يو څوک په سجده کې د ځناور په څېر خپلې څنګلې پر زمکه خورې کړي.

۴- وعن أبی حميد: (أن النبي ﷺ إِذَا سَجَدَ وَضَعَ يَدَيْهِ غَيْرَ مُفْتَرِشٍ وَلَا قَابِضِهِمَا، وَاسْتَقْبَلَ بِأَطْرَافِ أَصَابِعِ رِجْلَيْهِ الْقِبْلَةَ). [اخرجه البخاري]

ژباړه: له أبو حميد څخه نقل دي چې: رسول الله ﷺ به کله سجده کوله نو لاسونه به يې په داسې شان پر زمکه ايښودل چې نه به يې څنګلې پر زمکې غوړولې او نه به يې له اړخونو سره پيوسته ساتلې او د پښو د ګوتو سرونه به يې قبلې ته مخامخ کول.

۵- و عن جابر قال: قال رسول الله صلى الله وعليه وسلم:(إذا سجد أحدكم فليعتدل، و لايفترش ذراعيه افتراش الكلب). [صحيح الترمذي]

ژباړه: له جابر څخه نقل دي چې ویل یې: رسول الله ﷺ فرمایلي دي: کله چې یو تن له تاسې نه سجده کوي نو درمیان والی دې وکړي او څنګلې دې د سپي په شان پر زمکه نه غوړوي.

۶- وعن ابن عباس رضي الله عنهما قال: (أتيت النبي ﷺ من خلفه، فرأيت بياض إبطيه وهو مجخ قد فرج بين يديه). [مسند امام احمد] ومعنى (مجخ) أي فتح عضديه وجافاهما عن جنبيه ورفع بطنه عن الأرض.

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی وایي: زه د نبي علیه الصلاة والسلام د شا له طرفه د هغه په لور را روان وم نو د هغه مبارک د تخرګونو سپینوالی مې ولید، په داسې حال کې چې مټې مبارکې یې آزادې نیولې وې، دواړه لاسونه یې یو له بل نه جدا وو. (مجخ) معنا دا ده چې مټې خلاصې کړي او له اړخونو نه یې جدا وساتي او خېټه له زمکې نه پورته ونیسي.

* په سجده کې د دواړو لاسونو اېښودلو دوې طریقې دي: یوه دا چې د لاسونو ګوتې له اوږو سره برابرې کېږدي. دویمه دا چې له غوږونو سره یې برابرې کړي، د لمونځ کوونکي خوښه او اختیار دی چې په کوم یوه عمل کوي دواړه طریقې په صحیحو احادیثو کې ثابتې دي.

* په سجده کې سنت طریقه دا ده چې لمونځ کونکی خېټه له ورنونو څخه جدا وساتي، لکه مخکې حدیث کې چې یادونه وشوه.

د ابو حمید الساعدي په روایت کې راځي چې: (أن النبي ﷺ إذا سجد فرج بين فخذيه غيرحامل بطنه على شيء من فخذيه). [اخرجه أبو داود]

ژباړه: نبي کریم ﷺ به چې کله سجده کوله نو ورنونه به یې یو له بل نه جدا ساتل او خېټه به یې د ورنونو پر کومه برخه باندې نه وراچوله. دا حدیث په دې الفاظو ضعیف دی، لیکن د کیفیت بیانولو پهخاطر مې راوړی دی، قوي دلیل په دې مسئله کې د ابن عباس رضي الله عنهما هغه روایت دی چې مخکې تېر شو.

له دغو دوه حدیثونو نه څرګنده شوه چې ورنونه باید یو له بله جدا وساتلی شي، همدغه شان خېټه پر ورنونو بار نکړی شي.

* د سجدې پر مهال سنت طریقه دا ده چې د پښو ګوتې قبلې ته مخامخ کړی شي.

## په سجده کې دواړه قدمونه له يو بل سره جوختول په کار دي او که جدا ساتل؟

په دې کې د فقهاوو اختلاف دی، خو مهمه دا ده چې په دې مسئله کې وسعت دی، لمونځ کوونکی اختيار لري چې جوختوي يې او که يې ليرې ساتي، خو له احاديثو نه قدمونه له يو بل سره جوختول غوره معلومېږي، لکه څنګه چې د وائل بن حجر په روايت کې راځي چې: (أن النبي ﷺ كان إذا ركع فرج بين أصابعه، و إذا سجد ضم أصابعه). [رواه الحاكم]

* ژباړه: رسول الله ﷺ به چې کله رکوع کوله نو خپلې ګوتې به يې يوه له بلې جدا ساتلې او په سجده کې به يې سره جوختولې. دا حديث په دې دلالت کوي چې د سجدې په حالت کې به ګوتې جوختوي، سند يې حسن درجه کې دی، او هغه أحاديث يې هم تقويه کوي چې په کې ګوتې قبلې ته مخامخ کول راغلي دي، ګوتې قبلې ته مخامخ کول د دې تقاضا کوي چې قدمونه يو بل سره پيوست کړی شي.

۞ لنډه دا چې د سنت طريقې مطابق سجده هغه ده چې په لاندې شپږو صفاتو سمباله وي:

۱- څنګلي به پر زمکه نه خوروي، بلکې له زمکې نه به يې اوچتې ساتي.

۲- لاسونه به له اړخونو څخه جلا ساتي، تر دې چې د تخرګونو سپينوالی ښکاره شي.

۳- په سجده کې به لاسونه د غوږونو يا د اوږو تر برابرۍ پورته کوي.

۴- قدمونه به سيده ودروي او ګوتې به د قبلې طرف ته مخامخ کوي.

۵- خېټه به له ورونو څخه ليرې ساتي.

۶- دلاسونو ګوتې به قبلې ته مخامخ کوي.

کله چې سجده په دغو شپږو صفاتو برابره وي، نو بيا د سنت طريقې موافقه سجده ده او که چېرې کوم صفت په کې کم شي نو په دې صورت کې سجده صحيحه ده، ځکه دغه صفات مستحب دي. په پرېښودو سره يې په لمانځه کې کوم فساد او يا بطلان نه راځي، مګر دومره ده چې سنت طريقه کې يې نقصان او کمی ضرور راځي.

* لمونځ کوونکي ته په اوو (۷) اندامونو سجده کول په کار دي، که څه هم د زمکې او د دې اندامونو تر منځ کوم حائل هم وي، مګر د تندي او زمکې تر منځ حائل (پرده) بغير د حاجت نه مکروه ده، د مثال په توګه: په لمن سجده کول او که حاجت ؤ، لکه سخته ګرمي وه، پر زمکه تندی لګول ګران ؤ، لمانځه ته خشوع نه برابرېده، نو بيا پرته له کراهته پر لمن يا د

بل شي له پاسه سجده کول جائز دي، صحابه کرامو به ځيني وخت د ډېرې زياتې ګرمۍ له کبله پر لمنو باندې سجده کوله.

* په سجده کې به دا دعا وايي: « سبحان ربي الأعلى». په صحيح مسلم کې د حذيفه په روايت حديث دی چې: أن النبي ﷺ كان إذا سجد قال: (سبحان ربي الأعلى).

ژباړه: نبي اکرم ﷺ به په سجده کې « سبحان ربي الأعلى» ويله، چې معنی يې ده: «پاکي بيانوم د خپل پروردګار چې ډېر اوچت دی».

د عقبه په روايت کې راغلي دي: (لما نزل -سبح اسم ربي الأعلى- قال النبي ﷺ: اجعلوها في سجودكم). [أخرجه أبو داود و ابن ماجة]

ژباړه: کله چې (سبح اسم ربك الأعلى) سورت نازل شو، نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا په سجده کې ولولئ.

* په سجده کې چې د کومو دعاګانو ويل مستحب دي د هغو يادونه لږ مخکې د رکوع په دعاګانو کې شوېده.

***

د دوه سجدو تر منځ کښېناستل:

* د دوه سجدو تر منځ کښېناستل د لمانځه له ارکانو څخه دی، دليل يې: د نبي کريم ﷺ دا فرمان دی چې: (ثم ارفع حتى تطمئن جالسا). [متفق عليه]

ژباړه: بيا له سجدې نه پورته شه تر دې چې په کښېناستلو ډاډمن شې. له دې څخه معلومېږي چې له سجدې نه سر پورته کول يو رکن دی او د دوه سجدو تر منځ کښېناستل بل رکن.

* سنت طريقه دا ده چې کله د اولې سجدې نه سر پورته کړي نو تکبير به ووايي او د دوه سجدو تر منځ به کښېني، حديث شريف کې راځي: (أن النبي ﷺ كان يكبر في كل خفض ورفع). []

ژباړه: نبي اکرم عليه الصلاة والسلام به په هر ځل ښکته کېدو او پورته کېدو سره تکبير وايه.

* د دوه سجدو تر منځ کښېناستل د لمانځه له ارکانو څخه دی، دلیل: حدیث کې راځي رسول الله ﷺ یوه صحابي ته دلمانځه طریقه ښودله، نو ورته ویې فرمایل: (ثم ارفع حتی تطمئن جالسا). [متفق علیه] بیا -له سجدې نه -پورته شه تر دې چې په کښېناستلو ډاډمن شې.

د عائشې رضي الله عنها په حدیث کې راغلي دي چې: (أن النبي ﷺ كان إذا رفع رأسه من السجدة لم يسجد حتى يستوي جالسا). [رواه مسلم]

ژباړه: نبي کریم ﷺ به چې کله له –لومبی- سجدې نه سر مبارک راپورته کړ، نو – دویمه- سجده به يې تر هغې نه کوله چې برابر به کښېناست.

* د دوو سجدو تر منځ د ناستې طریقه: چپه پښه (قدم) به څملوي او ښۍ پښه به ودروي. همدا کیفیت د عائشې رضي الله عنها په حدیث کې بیان شوی دی، فرمايي: (أن النبي ﷺ كان إذا جلس افترش اليسرى، و نصب اليمنى). []

ژباړه: نبي علیه الصلاة والسلام به چې کله د دوه سجدو تر منځ کښېناسته نو کینه (چپه) پښه به يې هواره کړه او ښۍ پښه به يې ودروله. دا حدیث په صحیح مسلم کې دی. د ابو حمید په روایت کې هم نقل دي چې: (أنه ﷺ كان يفعل ذلك).[] او په همدې طریقه ټولو مسلمانانو عمل کړی دی، چې له مخکنیوو سلفو نه ورته پاتې ده.

* د دواړو سجدو ترمنځ په ناسته کې د لاسونو اېښودلو سنت طریقه:

په څرګنده توګه له احادیثو نه دا معلومېږي چې لمونځ کونکی به دواړه لاسونه په ورنونو کېږدي، په داسې حال کې چې د لاسونو ګوتې به يې خلاصې وي، یعنې د څپېړې په شکل او په مسواکه ګوته اشاره کول ورته جائز نه دي.

* مستحبه دا ده چې د ښۍ پښې ګوتې به قبلې ته مخامخ کړي، ځکه چې ښۍ پښه (قدم) ودرول سنت دي او کله چې پښه ودروله شي نو ګوتې يې خامخا قبلې ته مخامخ کېږي.

* د دوو سجدو تر منځ دعا ويل واجب دي او دا دعا به درې ځلې وايي: (رب اغفرلي).اې الله ما ته ښښنه وکړې، که درې ځلې نه زیات وویل شي نو څه باک نه کوي. په یوه صحیح حدیث کې له حذیفه نه ثابت دي چې: (أن النبي ﷺ كان يقول بين السجدتين: (رب اغفرلي، رب اغفرلي). [رواه النسائي]

ژباړه: نبي عليه الصلاة والسلام به د دوه سجدو تر منځ دا دعا ويله: (رب اغفرلی،رب اغفرلی). علما وايي دا دعا به رسول الله ﷺ باربار ويله، ځکه چې رسول الله به د دوه سجدو تر منځ د سجدې په مقدار کښېناسته.

له ابن عباس نه نقل دی: (أن النبي صلى الله عليه وسلم كان يقول ذكرا آخر وهو: (اللهم اغفرلي، وارحمني، واهدني، وارزقني). [رواه الترمذي]

ژباړه: نبي كريم ﷺ به دا دعاء هم ويله چې: (اللهم اغفرلي، وارحمني...) اې الله! ما ته ښښنه وکړې او په ما رحم وکړې او هدايت راته وکړې او روزي راته راکړې. ځيني حفاظو (محدثينو) دې حديث ته د ضُعف اشاره کړې ده. د امام أحمد رحمه الله په نظر د حذيفه په روايت چې کوم حديث مخکې تېر شو، هغه د ابن عباس رضي الله عنهما د روايت په نسبت ډېر قوي دی، ليکن د ابن عباس رضي الله عنهما په روايت چې کومه دعاء ده، ويل يې جائز دي، کوم باک نه لري.

* له دويمې سجدې نه وروسته کښېناستل: دويم رکعت ته له پورته کېدو نه مخکې لږ. غونډې کښېناستل په کار دي، چې دې ناستې ته د فقهاوو په اصطلاح کې «جلسة الاستراحة» وايي. دا جلسه زيات نه زيات د استحباب په درجه کې ده، يعنې که چا ونه کړه باک نه لري.

لمونځ کوونکی چې کله دويم رکعت ته پاڅېږي نو لاسونه به پر زمکه تکيه کوي او که په زنګنونو؟ د مصنف حفظه الله په نظر «جلسة الاستراحة» مستحبه نه ده، يعنې فوراً به پاڅېږي په داسې حال کې چې لاسونه به په زنګنونو تکيه کړي، نه پر زمکه.

***

## دويم رکعت:

* دويم رکعت هم د ړومبي رکعت په څېر اداء کول په کار دي، ځکه چې نبي کريم ﷺ يوه صحابي ته د لمونځ ښودلو پر مهال وفرمايل: (ثم افعل هذا في صلاتك كلها). [متفق عليه]

ژباړه: بيا په ټول لمانځه کې همدغسې کوه، يعنې په اول رکعت کې چې دې څه کړي او ويلي، په پاتې ټولو رکعتونو کې همدغسې وکړه.

۞ دغه لاندې څو کارونه په دويم رکعت کې نشته:

١- تکبيرتحريمه: په دويم رکعت کې تکبير تحريمه نشته، ځکه دغه تکبير د لمانځه د پيل کولو لپاره مشروع شوی دی او په دې تکبير سره د لمانځه پيل په اول رکعت کې شوی دی.

٢- د استفتاح دعاء: د لمانځه شروع کولو دعاء يوازې په ړومبي رکعت کې مقرره شوې ده، په دويم رکعت کې يې لوستل نشته، که په اول رکعت کې درنه هېره شي يا يې قصداً پرېږدې، نو بيا يې هم ويل نشته، ځکه د دې محل (د ويلو ځای) اول رکعت ؤ او هغه فوت شوی دی.

٣- نيت تازه کول: دويم رکعت کې دوباره نيت کول نشته د لمانځه په شروع کې چې کوم نيت شوی وي، همغه د ټولو رکعتونو لپاره کافي دی.

***

لومړی تشهد:

* په ړومبی قاعده کې د لاسونو اېښودلو دوې طريقې دي: په کومه طريقه مو چې عمل وکړ صحيح ده، ځکه چې دواړه طريقې په احاديثو کې ثابتې دي.

لومړۍ طريقه: ښی لاس به په ښي ورون او چپ لاس به په چپ ورون (پتون) باندې کېږدې، د عبد الله بن الزبير رضي الله عنهما په روايت کې راځي چې: (أن النبي ﷺ كان إذا جلس وضع يده اليمنى على فخذه الأيمن ويده اليسرى على فخذه الأيسر، و ألقم يده اليسرى ركبته). و هذا اللفظ ثابت في صحيح مسلم.

ژباړه:کله به چې نبي عليه الصلاة والسلام تشهد ته کښېناست ښی لاس به يې په ښي ورون او چپ لاس به يې په چپ ورون کېښود. دا حديث په دې الفاظو په صحيح مسلم کې شته. د (و القم) معنی علماوو داسې کړې چې: يجوف كفه اليسرى قابضة على ركبته اليسرى. يعنې په چپ ورغوي به چپ زنګون په داسې ډول ونيسي چې ګوتې يې يو تر بله پرانستې وي.

دويمه طريقه: ښی لاس به پر ښي زنګون او چپ لاس به پر چپ زنګون کېږدي، د ابن عمر رضي الله عنهما په روايت کې راځي چې: (أن النبي ﷺ كان إذا جلس وضع يديه على ركبتيه) و هذا ايضا ثابت في صحيح مسلم.

ژباړه: نبي کريم ﷺ چې به کله تشهد ته کېناست نو لاسونه به يې پر زنګنونو کېښودل.

* ځنې وخت چپ لاس پر چپ زنګون باندې په داسې ډول اېښودل چې ګوتې یې پرانستې وي، سنت دي، لکه مخکې چې د عبدالله بن الزبیر رضي الله عنهما په حدیث کې په دې الفاظو تېر شول چې (والقم یده الیسری رکبته). نو مناسبه دا ده چې دا د تورک په حالت کې وشي، ځکه له تورک نه غیر په تلقیم کولو کې تکلف او مشقت دی.

۞ د تشهد پر مهال د لاسونو اېښودلو درې کیفیته په احادیثو کې راغلي دي:

د تشهد پر مهال دلاسونو اېښودلو درې کیفیته په احادیثو کې راغلي دي: په کوم کیفیت چې عمل وشي جائز دی، بهتره دا ده چې کله په اوله طریقه عمل وکړي، کله په دویمه او کله په درېیمه، درېواړه طریقې سره له دلیله په لاندې توګه ذکر کېږی:

۱- دښي لاس کوچنۍ او ور سره دویمه ګوته به را بندې کړي او د منځ ګوته به د غټې ګوتې سره یو ځای کړی «حلقه» کړي او په شهادت ګوته (مسواک ګوته) به د الله تعالی د توحید اشاره وکړي، دا طریقه د وائل بن حجر رضي الله عنه په حدیث کې راغلې ده، او هغه صحیح روایت دی.

۲- د شهادت له ګوتې نه غیر د لاس نوري ټولې ګوتې به رابندې کړي او غټه ګوته به د شهادت ګوتې له بیخ سره کېږدي او په مسواک ګوته به اشاره وکړي، په صحیح مسلم کې د ابن عمر رضي الله عنهما په حدیث کې راغلي دي: (أن النبي ﷺ قبض على يديه ثلاثة و خمسين). [رواه مسلم]

ژباړه: نبي کریم ﷺ د لاس د ګوتو په رابندولو سره د درې پنځوس عدد شکل جوړ کړ.

۳- د ښي لاس ګوتې به ټولې رابندې کړي، غیر د شهادت له ګوتې نه، بیا به په همدې ګوته اشاره وکړي، دا طریقه هم په صحیح مسلم کې د ابن عمر رضي الله عنهما په روایت کې راغلې ده، وايي: (أن النبي ﷺ قبض أصابعه كلها و أشار بالسبابة). [رواه مسلم]

ژباړه: نبي علیه الصلاة والسلام ټولې ګوتې رابندې کړې او په سبابه ګوته یې اشاره وکړه.

* دغه ذکر شوې طریقې لکه د ګوتو رابندول او اشاره کول یوازې تشهد ته د ناستې پر مهال دي، د دوو سجدو په منځ وغیره کې نشته، ابن عمر رضي الله عنهما وايي: (إذا قعد للتشهد) یعنې دغه مذکورې طریقې به صرف تشهد ته د ناستې پر مهال کوي.

* د اشارې کولو پر مهال به د شهادت ګوته اوچته نیسي، تیټ نیول، یا خوځول یې نشته، ځکه په صحیحو احادیثو کې یې چېرته یادونه نه ده راغلې! په داسې حال کې چې اصل په عباداتو کې توقیف دی.

په صحیح مسلم کې د عبد الله بن الزبیر رضي الله عنهما په روایت کې راغلي دي: (کان رسول الله ﷺ إذا قعد في الصلاة جعل قدمه الیسری بین فخذه وساقه، و فرش قدمه الیمنی، و وضع یده الیسری علی رکبته الیسری، و وضع یده الیمنی علی فخذه الیمنی وأشار بإصبعه). [رواه مسلم]

ژباړه: کله به چې نبي اکرم ﷺ په لمانځه کې تشهد ته کښېناست، نو د چپې پښې قدم به یې د ورون او پُنډۍ په مابین کې ساتلو او د ښی پښې قدم به یې هوار کړ، چپ لاس به یې پر چپ زنګون او ښی لاس به یې پر ښي ورون کېښود او په مسواک ګوته به یې اشاره وکړه.

همدا رنګه په مسلم شریف کې د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په روایت شوي بل حدیث کې راځي: (أن رسول الله ﷺ کان إذا قعد في التشهد وضع یده الیسری علی رکبته الیسری ووضع یده الیمنی علی رکبته الیمنی وعقد ثلاثة وخمسین وأشار بالسبابة). [رواه مسلم]

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله تشهد ته کښېناست، نو چپ لاس به یې پر چپ زنګون او ښی لاس به یې پر ښي زنګون کېښود. د دري پنځوس عدد شکل به یې جوړ کړ او په سبابه ګوته به یې اشاره وکړه.

په مسند أحمد کې د وائل بن حجر نه نقل دي وایي: (رأیت النبي ﷺ حین کبر رفع یدیه حذاء أذنیه، ثم حین رکع، ثم حین قال: سمع الله لمن حمده رفع یدیه، ورأیته ممسکا یمینه علی شماله في الصلاة، فلما جلس حلق بالوسطی والإبهام وأشار بالسبابة، و وضع یده الیمنی علی فخذه الیمنی، ووضع یده الیسری علی فخذه الیسری).

ژباړه: له وائل بن حجر نه روایت دی وایي چې: نبي کریم ﷺ مې ولید چې کله یې لمانځه ته «الله أکبر» وایه، نو دواړه لاسونه یې د غوږونو تر برابرۍ پورته کړل، بیا کله چې رکوع ته لاړ او هغه مهال چې «سمع الله لمن حمده» یې وویله نو لاسونه یې پورته کړل او په لمانځه کې مې په داسې حال کې ولید چې ښی لاس یې د چپ لاس له پاسه نیولی ؤ. او کله چې ـــ تشهد ته -کښېناست نو منځنۍ ګوته یې له غټې ګوتې سره یو ځای کړې کړه

او په سبابه ګوته يې اشاره وکړه. ښی لاس يې په ښي ورون او چپ لاس يې پر چپ ورون باندې ايښی ؤ.

په دغو ټولو ذکر شويوو صحيحو احاديثو کې د اشارې کولو يادونه راغلې، خو اشارې سره د ګوتې خوزولو يادونه په يوه حديث کې هم ونه شوه.

* اوله قاعده د لمانځه له واجباتو څخه ده. که چېرې په هېره سره پاتې شې نو سجده سهوه لازمېږي او د وجوب دلائل يې دا دي:

١- رسول الله ﷺ ورباندې مداومت «هميشوالی» کړی او په حديث کې راغلي دی چې: (صلوا كما رأيتموني أصلي). [متفق عليه].

ژباړه: هماغسې لمونځ اداء کړئ چې څنګه مو زه په لمونځ کولو ليدلی يم.

او که په هېره ترې پاتې شي، نو بيا يې هم په سجده سهوې سره نقصان جبيره کېدی شي.

٢- د ابن مسعود په روايت حديث دی چې: (قولو: التحيات لله). [رواه الشيخان] التحيات لله «تشهد» ووايئ. يعنې أمر يې کړی او أمر په وجوب دلالت کوي.

٣- رسول الله ﷺ په تشهد ډېر اهتمام (پاملرنه) کړې چې دا هم پر وجوب دلالت کوي لکه څنګه چې د ابن عباس رضي الله عنهما په روايت کې راغلي دي وايي: (كان رسول الله ﷺ يعلمنا التشهد كما يعلمنا السورة من القرآن، فيقول: قولوا: التحيات المباركات،الصلوات الطيبات لله، سلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته، سلام علينا، وعلى عباد الله الصالحين، أشهد أن لا إله إلا الله، و أشهد أن محمدا رسول الله ).[رواه مسلم]

ژباړه: ابن عباس رضي الله عنهما وايي: مونږ ته به رسول الله ﷺ تشهد داسې راښودلو، لکه د قرآن کريم سورت به يې چې راښودلو، راته ويل به يې چې: ووايئ: (التحيات المباركات...) ټول ژبنې مبارک عبادتونه او بدني پاک عبادتونه الله جل جلاله لره دي، سلام او د الله رحمتونه او برکتونه دې وي په تا اې پيغمبره، سلام دې وي پر مونږ او د الله په نيکو بندګانو، زه ګواهي ورکوم چې بې له الله جل جلاله بل هيڅوک د بنده ګی لائق نشته، او زه ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله پيغمبر دی.

د تشهد دعاء د ابن مسعود په روايت کې په دې الفاظو راغلې ده چې: (التحيات لله والصلوات و الطيبات، السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته، السلام علينا وعلى عباد

الله الصالحين، أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله). دا روايت په صحيحينو کې را غلی او په أئمه وو کي امام أحمد رحمه الله غوره کړی دی.

قال الإمام أبوعيسى الترمذي رحمه الله (حديث ابن مسعو قد روي عن غير أوجه وهو أصح حديث روي عن النبي ﷺ في التشهد، والعمل عليه عند أكثر أهل العلم من أصحاب النبي ﷺ ومن بعدهم من التابعين. [الجامع الصحيح سنن الترمذي]

ژباړه: ټول ژبني، بدني، او مالي عبادتونه الله جل جلاله لره دي، سلام او د الله رحمتونه او برکتونه دې وي پر تا ای پیغمبره، سلام دې وي پر مونږ او د الله پر نیکو بنده ګانو، ګواهي ورکوم چې له الله تعالی نه پرته بل هیڅوک د عبادت وړ نشته او ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله بنده او رسول دی. امام ترمذي رحمه الله وايي: د ابن مسعود په ډېرو سندونو کې راغلي دي چې دا په تشهد کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه صحیحترین روایت دی. د صحابه کرامو، او تابعینو له جملې نه ډېرو د علم خاوندانو پرې عمل کړی دی.

۞ په تشهد کې نور آحادیث هم راغلي دي:

۱- د عمر بن الخطاب حدیث په دې الفاظو راغلی دی چې:

(التحيات الزاكيات لله، والصلوات الطيبات لله...) [أخرجه مالك في الموطأ] باقي الفاظ یې د ابن مسعود د حدیث په شان دي. دغه تشهد امام مالک رحمه الله غوره کړی دی.

۲- په دې اړه د ابن عباس رضي الله عنهما حدیث هم په دې الفاظو راغلی دی چې: (التحيات المباركات، والصلوات الطيبات لله....) [أخرجه مسلم]. باقي الفاظ یې د ابن مسعود د حدیث پشان دي او دغه تشهد امام شافعي رحمه الله غوره کړی دی.

د تشهد کومې درې ډوله دعاګانې چې پاس ذکر شوې، د هغو له جملې نه چې هره یوه یې وویل شي، لمونځ صحیح دی. ولې بهتره دا ده چې لمونځ کونکی کله یو تشهد ووايي او کله بل. د دې لپاره چې په ټولو احادیثو عمل راشي، هڅه دې وکړي چې په زیاتو وختونو کې هغه تشهد ووايي کوم چې د ابن مسعود په روایت نقل دی، ځکه چې دا په صحیحینو کې راغلی او أصح روایت دی. د ترجیح نور اسباب یې هم مصنف په اصل کتاب کې ذکر کړي دي.

* په اول تشهد کې درود شریف (اللهم صل) ویل نشته، ځکه چې دا په وروستي تشهد پورې خاص دی.

ابن القيم رحمه الله وايي: ( التشهد الأول تخفيفه مشروع، و كان النبي ﷺ إذا جلس فيه كأنه على الرضف، و لم يثبت عنه أنه كان يفعل ذلك فيه - أي الصلاة عليه ﷺ في التشهد الأول – و لا علّمه للأمة و لا يُعرف أن أحدا من الصحابة استحبه).()

د ړومبي تشهد لنډول يو مشروع كار دى، نبي عليه الصلاة والسلام به چې كله ړومبي تشهد ته كښېناست، ګويا په ګرم كاڼي ناست دى – يعني لنډولو به يې– له نبي عليه الصلاة والسلام نه په ړومبي تشهد كې درود ثابت نه دى او نه يې په دې اړه امت ته ښودنه كړې، همدا راز په صحابه وو كې هم چا ورته مستحب نه دى ويلي.

***

له ړومبي تشهد نه دریيم ركعت ته پاڅېدل:

* له ړومبي تشهد نه دریيم ركعت ته پورته كېدو پر مهال لاسونه اوچتول سنت دي. د ابن عمر رضي الله عنهما په اړه نقل دي چې: (كان إذا دخل في الصلاة كبر و رفع يديه، و إذا ركع رفع يديه، و إذا قال: سمع الله لمن حمده) رفع يديه، و إذا قام من الركعتين رفع يديه. و رفع ذلك ابن عمر إلى النبي ﷺ. [صحيح البخاري] و بوب البخارى: (باب رفع اليدين إذا قام من الركعتين).

ژباړه: ابن عمر رضي الله عنهما به چې كله لمانځه ته داخلېده نو تكبير به يې وو‌ايه او دواړه لاسونه به يې د اوږو تر برابرۍ پورته كړل او چې كله به ركوع ته ښكته كېده نو لاسونه يې پورته كول او چې كله به يې «سمع الله لمن حمده» وويله نو لاسونه به يې پورته كړل او چې كله به له دويم ركعت نه پورته كېده نو بيا يې هم لاسونه پورته كول. ابن عمر رضي الله عنهما ددې نسبت رسول الله ته كړى دى. امام بخاري رحمه الله په دې عنوان مستقل باب تړلى دى چې: (باب: له دويم ركعت نه د پاڅېدلو پر وخت د لاسونو پورته كول).

د ابو حميد الساعدي په اړه نقل دي چې: أنه كان في عشرة من أصحاب رسول الله ﷺ منهم ابوقتادة و قال أبوحميد: (أنا أعلمكم بصلاة رسول الله ﷺ إلى أن قال: ثم إذا قام من الركعتين كبر، و رفع يديه حتى يحاذي بهما منكبيه، كما كبر عند افتتاح الصلاة). [سنن أبي داود]

ژباړه: هغه د لسو صحابه کرامو سره ؤ چې په دوئ کې ابو قتاده هم موجود ؤ نو ابوحمید وویل چې: زه په تاسې کې د رسول الله ﷺ په لمانځه باندې ښه پوهسږم... تر دې پورې چې ویې ویل: بیا به چې هغه ﷺ له دویم رکعت نه پاځېده نو دواړه لاسونه به یې پورته کړل تر دې چې د دواړو اوږو سره به یې برابر کړل، هماغسې لکه د لمانځه په شروع کې به یې چې تکبیر وایه -او لاسونه به یې ورسره پورته کول-.

پاتې لمونځ:

* لمونځ کوونکی به باقي لمونځ -یعني دریم او څلورم رکعت- د ړومبي او دویم رکعت په شان اداء کوي. نبي علیه الصلاة والسلام یوه صحابي ته د لمانځه ښودلو پر مهال وفرمایل: (ثم افعل هذا في صلاتك كلها). [متفق علیه]

ژباړه: بیا په ټول لمانځه کې همدغسې کوه.

***

وروستی تشهد:

* آخرې تشهد د لمانځه له ارکانو څخه یو رکن دی. د ابن مسعود رضي الله عنه په روایت کې راځي، هغه وایي چې: (كنا نقول قبل أن يُفرض التشهد: السلام على الله، السلام على جبريل، السلام على ميكاييل، فقال النبي ﷺ: قولو التحيات لله....).[رواه النسائي]

ژباړه: له تشهد فرض کېدو نه وړاندې به مونږ داسې ویل چې: السلام علی الله، السلام علی جبریل، السلام علی میکاییل، نو نبي علیه الصلاة والسلام راته وفرمایل: داسې ووایې چې: التحیات لله.......

د تشهد پر فرضیت باندې بل دلیل دادی چې: رسول الله ﷺ ورباندې مداومت «همیشوالی» کړی دی، کله یې هم نه دی پرېښی.

په داسې حال کې چې رسول الله فرمایي: (صلوا كما رأيتموني أصلي). [متفق عليه]

* په وروستی قاعده کې درود شریف -اللهم صل...- لوستل سنت مؤکد دي او ځینې علماء ورته واجب وایي.

۞ د درود شریف د مؤکد والي دلائل:

١- د فضالة بن عبيد الله حديث دی چې: (أن رسول الله ﷺ رأى رجلا يصلي لم يحمد الله ولم يمجده، ولم يصل على النبي ﷺ فقال النبي ﷺ:"عجل هذا" ثم دعاه النبي ﷺ فقال:"إذا صلى أحدكم فليبدأ بحمد ربه والثناء عليه، وليصل على النبي ﷺ، وليدع ماشاء). [سنن البيهقي]

ژباړه: رسول الله صلى الله عله وسلم يو سړی وليده چې لمونځ يې کولو خو په لمانځه کې يې نه د الله ستاينه وکړه، نه يې د هغه لويي بيان کړه او نه يې پر نبي صلى الله عليه وسلم باندې درود ووايه، نو نبي عليه الصلاة والسلام وفرمايل: دې سړي بېړه وکړه، بيايې راوغوښت او ورته ويې ويل: کله چې ستاسي نه يو تن لمونځ کوي، نو په کار ده چې د خپل رب په ستاينه او ثناء يې پيل کړي، پر نبي صلى الله عليه وسلم دې درود ووايي او د خپلې خوښې دعاء دې وغواړي.

٢- د کعب بن عجرة په روايت کې راغلي هغه وايي: خرج علينا النبي ﷺ، فقلنا: يارسول الله! قد علمنا كيف نسلم عليك، فكيف نصلي عليك؟ قال: قولوا: اللهم صل على محمد وعلى آل محمد كما صليت على إبراهيم إنك حميد مجيد، اللهم بارك على محمد وعلى آل محمد كما باركت على آل إبراهيم إنك حميد مجيد.[متفق عليه] و في لفظ: كما صليت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم.

ژباړه: کعب بن عجرة وايي: يو ځلې د الله رسول ﷺ زمونږ لورې ته راغی، نو مونږ ورته وويل: ای د الله رسوله! مونږ پر تا سلام ويل زده کړيدي، خو پر تا درود شريف به څنګه وايو؟ ويې فرمايل: داسي ووايي چې: (اللهم صل... ).

ژباړه: ای الله! پر محمد ﷺ او د محمد ﷺ پر آل باندې درود وليږه، لکه څنګه چې دي د ابراهيم عليه السلام پر آل باندې درود ليږلی دی، په رښتيا سره ته ستايلی شوی، او د لويي خاوند يې، ای الله! برکت نازل کړه پر محمد صلى الله عليه وسلم او د محمد صلى الله عليه وسلم پر آل باندې، لکه څنګه چې دي برکت نازل کړې د ابراهيم عليه السلام پر آل باندې په رښتيا سره ته ستايلی شوی او د لويي خاوند يې.

دا حديث په دې الفاظو متفق عليه دی او په بخاري کې ورسره دا الفاظ هم زيات شوي دي چې: (كما صليت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم).

د کعب بن عجرة حديث د درود شريف الفاظو ته پوره شامل دی.

* د وروستي تشهد په آخره کې د هغې دعاء ويل هم سنت دي چې په کې له څلورو شيانو څخه پناه غوښتل راغلي دي.

عن أبي هريرة أن النبي صلى الله عنه وسلم قال: (إذا انتهى أحدكم من تشهده فليستعذ من أربع: من عذاب جهنم، ومن عذاب القبر، وفتنة المحيا والممات، وفتنة المسيح الدجال ). [رواه مسلم]

ژباړه: له أبوهريره نه نقل دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ځوک چې له تشهد ويلو نه فارغ شي، نو په کار ده چې له څلورو شيانو څخه پناه وغواړي: ۱- د جهنم له عذاب نه. ۲- د قبر له عذاب نه. ۳- او د ژوند او مرګ له فتنې نه. ۴- او د مسيح دجال له فتنې نه.

* له تشهد ويلو او دغو څلورو شيانو څخه له پناه غوښتلو ووروسته يې چې کومه دعاء خوښه وي د الله تعالى نه دې وغواړي.

د ابن مسعود په روايت کې راځي: أن النبي ﷺ لما ذكر له التشهد قال: "ثم يتخير من الدعاء أعجبه إليه، فيدعو". [متفق عليه]

ژباړه: کله چې نبي عليه الصلاة والسلام ته د تشهد يادونه وشوه نو ويې ويل: بيا دې هغه دعاء غوره کړي چې ورته ډېره خوښه او په زړه پورې وي.

دلته وينا عامه ده ټولې هغه دعاګانې په بر کې نيسي چې د دنيا او آخرت خير پکې وي، په خاصه توګه زياتو وختونو کې هغه دعاګانې ويل په کار دي کومې چې په آحاديثو کې راغلي دي، ځکه دا ډېرې جامع او شاملې دعاګانې دي.

***

## سلام ګرځول

* د لمانځه په پای کې به ښي او چپ لوري ته سلام وګرځوي او دا د لمانځه له ارکانو څخه دی، د سلام الفاظ دا دی: السلام عليكم ورحمة الله.

* په سلام ګرځولو کې سنت طريقه دا ده: چې ښي او چپ لورې ته به په دومره اندازه کې ګوري چې د اننګو سپينوالی يې مقتديانو ته ښکاره شي.

د ابن مسعود په حديث کې راځي هغه وايي: (ثم سلم عن يمينه و عن شماله حتى رُؤي بياضُ خده و قال: السلام عليكم ورحمة الله). [أبو داود و الترمذي]

ژباړه: بیا یې ښي او چپ لور ته سلام وګرځولو تر دې چې د اننګو سپینوالی یې ولیدل شو او «السلام علیکم ورحمة الله» الفاظ یې وویل.

* په سلام ګرځولو کې بله سنت طریقه داده: چې د سلام په الفاظو کې به مد «اوږدول» نه کوي، دلیل: په حدیث شریف کې راغلي دي چې: ( أن النبي ﷺ قال: (حذف السلام سنة).().

امام أحمد او ابن مبارک رحمهما الله ویلي دي: د (حذف السلام) مطلب دا دی چې د سلام الفاظ به نه اوږدوي.

* په وروستي تشهد کې سنت طریقه دا ده: چې لمونځ کونکی تورک وکړي، د تورک مطلب دا دی چې ښی پښه «قدم» به ودروي او چپه پښه به د ښی پښې څخه لاندې وباسي او پر زمکه به کښېني چې دغه ډول ناسته «تورک» یوازې په دویم تشهد پورې خاص دی، په ړومبي تشهد کې به «تورک» نه کوي.

***

په لمانځه کې اطمینان او خشوع:

* په اطمینان سره لمونځ کول د لمانځه له ارکانو څخه دی او د اطمینان لږه اندازه دا ده چې د واجب ذکر -یو ځلې تسبیح ویلو- په انذازه د لمانځه هر رکن په سکون او آرام سره ادا کړي.

د اطمینان په رکنیت باندې دلیل: نبي علیه الصلاة والسلام یوه صحابي ته وفرمایل: (ثم ارکع حتی تطمئن راکعا). بیا رکوع وکړه تر دې چې په رکوع باندې ډاډمن «مطمئن» شې. او همدغسې نور ارکان هم په اطمینان او آرام سره اداء کول په کار دي.

له حذیفه نه په روایت شوي حدیث کې راغلي دي چې: (أنه رأی رجلا یصلي و لایطمئن في صلاته فقال له: (إنك لم تصل، ولو مت لمت على غیر الفطرة التي فطرالله علیها محمدا ﷺ ). [رواه البخاري]

ژباړه: حذیفه یو سړی په لمانځه ولیو په داسې حال کې چې په لمانځه کې یې اطمینان نه کاوه -یعنې رکوع او سجده یې په بېړه اداء کول-، نو حذیفه ورته وویل: تا لمونځ نه دی کړی او که په دې حالت کې مړ شې نو ته به په هغه دین نه یې مړ شوی په کوم چې الله تعالی محمد ﷺ پیدا کړی دی، یعنې ته به مسلمان نه مرې!.

* خشوع په لمانځه کې مستحب او سنت ده: امام ابن قيم رحمه الله د خشوع تعريف داسې کړی دی چې: ( الخشوع: قيام القلب بين يدي الرب بالخضوع والذل، والجمعية عليه). [مدارج السالکين]

ژباړه: د الله تعالى پر وړاندې خپل زړه په عاجزۍ او خاکسارۍ سره ودرولو ته خشوع وايي.

په لمانځه کې د خشوع اهميت د رسول الله ﷺ او د مشرانو صحابه وو څخه په تواتر سره نقل دی. له دې کبله عائشة صديقه رضي الله عنها وايي: (أن النبي ﷺ کان يصلى أربعاً فلا تسأل عن حسنهن وطولهن). [متفق عليه]

ژباړه: نبي عليه الصلاة والسلام به څلور رکعته لمونځ کولو چې د ښايست او اوږدوالي پوښتنه يې مه کوه.

* په لمانځه کې پرلپسې ډېر خوزيدل راخوزيدل لمونځ باطلوي.

* فقهاوو د (الحرکة الکثيرة) مفهوم دا بيان کړی دی چې: (أنه إذا رُؤي الرجل ظُنّ أنه ليس في صلاة). که څوک يې ويني نو د لمونځ کوونکي ګومان پرې نه کوي. نو په دې سره لمونځ باطليږي.

**

په لمانځه کې مخې ته سُتره ودرول:

* لمونځ کوونکي لپاره مخې ته ستره ودرول سنت مؤکد ده، دليل يې د نبي عليه الصلاة والسلام دا وينا ده چې: (إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ ، فَلْيُصَلِّ إِلَى سُتْرَةٍ وَلْيَدْنُ مِنْهَا) [واه أبو داود و صححه الألباني] ژباړه: کله چې له تاسې نه يو څوک لمونځ کوي، نو سُترې ته دې لمونځ وکړي او سُترې ته دې نږدې ودريږي.

* ستره بايد ودرول شي نه دا چې پر زمکه څملول شي.

* د سُترې اوږدوالی «طول»: د سترې اوږدوالی بايد د اوښ د پالان (کتې) د وروستۍ حصې په اندازه وي، چې هغه تقريبا يو ګز برابريږي، نو په دې حساب د سُترې اوږدوالی د يوه شرعي ګز په اندازه په کار دی.

مسلم شریف کې د عائشې صدیقې رضي الله عنها په روایت حدیث دی چې: (سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ سُتْرَةِ الْمُصَلِّي ، فَقَالَ : مِثْلُ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ) [رواه مسلم]

ژباړه: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د سُترې په اړه پوښتنه وشوه نو ویې فرمایل: د اُوښ د پالان د آخري حصې په اندازه.

د سُترې پلنوالی: فقهاوو ویلي دي چې په شریعت کې د سترې پلنوالی کومه ټاکلې اندازه نه لري، دېوال هم ستره کېدلی شي، دغه شان غشی وغیره هم ستره کېدلی شي، ځکه نبي کریم ﷺ د غشي، اوښ او دېوال په څیر شیان ستره ګرځولي دي.

* د لمونځ کوونکي مخې ته تېرېدل حرام دي. دلیل یې: د رسول الله ﷺ دا وینا ده چې: (لو یعلم المار بین یدي المصلي ماذا علیه لکان أن یقف أربعین خیرًا له من أن یمر بین یدیه).[متفق علیه]

ژباړه: که چېرې د لمونځ کوونکي مخې ته تېرېدونکی په دې وپوهېږي چې دا څومره ګناه لري نو څلویښت ورځې یا کالونه ودرېدل به ورته له دېنه غوره ؤ چې د لمونځ کوونکي په مخ کې تېر شي.

* که یو څوک د لمونځ کوونکي مخې ته تېرېدل وغواړي، نو لمونځ کوونکی به یې منعه کوي او په دې کې د فقهاوو تر منځ اختلاف هم نشته.

د ابو سعید الخدري په روایت کې راځي: (إذا اتخذ أحدکم ما یستره في صلاته، فإذا أحد أراد أن یمر بینه وبین سترته فلیرده،فإن أبی فلیقاتله،فإنه شیطانٌ).()

ژباړه: که له تاسې نه چا په لمانځه کې ځان ته ستره ودرولې وي او یو څوک د دې لمونځ کوونکي او سترې تر منځ تېرېدل وغواړي، نو لمونځ کوونکي ته په کار ده چې مخه یې ونیسي او که بیا هم نه منعه کېده نو ورسره دې وجنګېږي. ځکه هغه شیطان دی.

امام نووي او شوکاني رحمهما الله له پورتني حدیث نه په استنباط سره یوه مسئله ذکر کړې ده او هغه دا چې: د لمونځ کوونکي مخې ته د تېرېدونکي منعه کول او ورسره جګړه کول په هغه صورت کې په کار دي چې لمونځ کوونکي مخې ته ستره ایښې وي، یعنې د لمانځه نه مخکې یې خپل احتیاطي تدبیر نیولی وي او که چا ستره نه وي ودرولې نو حق نه لري چې مخې ته تېرېدونکي سره جګړه وکړي او یا یې په شدت سره منع کړي. دا مسئله یې د حدیث له دې الفاظو نه معلومه کړې ده: (إذا صلی أحدکم إلی مایستره) دلته "إذا" شرطیة ده

يعنې جګړه يا شدت سره منع کول هغه مهال جائز دی چې لمونځ کوونکي له احتياط نه کار اخستی وي او مخې ته يې ستره ودرولې وي، د نووي اوشوکاني رحمهما الله خبره ډېره مقبوله او د حديث الفاظو سره موافقه ده، څوک چې پرته له سترې لمونځ کوي، دا يو ډول نقصان او کمی ده، نو دا مناسبه نه ده چې يو څوک په خپله په نقصان واقع وي او بل چا سره د هغه په نقصان باندې جګړه کوي.

* که لمونځ کوونکي مخې ته ستره نه وي ودرولې، نو په دې صورت کې يې مخې ته له لرې نه تېرېدل جائز دي او له نږدې نه حرام.

د نږدېوالي اندازه: د لمونځ کوونکي د ودريدو له ځای نه د سجدې تر ځای پورې ده. يعنې په دې صورت کې د لمونځ کوونکي مخې ته تېرېدل جائز نه دي.

* د لمونځ کوونکي مخې ته تېرېدل، که څه هم حرام دي، خو د لمونځ کوونکي لمونځ نه باطلوي. مګر د درې شيانو په تېرېدو سره يې لمونځ ماتېږي او هغه درې شيان: ښځه، تور سپی او خر دی.

د ابوذر په روايت حديث دی چې: (إذا صلى أحدكم فإنه يستره مثل آخرة الرحل، فإذا لم يضع مثل آخرة الرحل فإنه يقطع صلاته المرأة، والحمار، والكلب الأسود).[أخرجه مسلم]

ژباړه: نبي عليه الصلاة والسلام ارشاد دی: کله چې له تاسي نه يو تن د لمانځه اراده وکړي نو هغه دې د اوښ پالان (د کتې) د آخري برخې په اندازه ستره ودروي، که چېرې ستره يې ونه دروله نو دغه درې شيان يې لمونځ ماتوي: ښځه، خر او تورسپی.

يوه سړي ابوذر ته وويل: د سور او ژېړ له منځه د تور سپي خاص کولو څه وجه ده؟ ابوذر په جواب کې وويل: ما له نبي کريم ﷺ نه دا پوښتنه کړې وه، هغه صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل: تور سپی شيطان دی، يعنې په سپو کې شري، خبيث او بی فائدې ځناور دی.

***

د ښځو د لمانځه طريقه:

ښځې د لمانځه په ټولو مسائلو کې چې مخکې يې يادونه وشوه له نارينه وو سره برابرې دي، هغه اذکار وي، که قرآن لوستل وي او که د لمانځه نورې طريقې، يعنې په بشپړه توګه

د نارينه وو پشان دي، همدا رنګه سننو، واجباتو او أرکانو کې له سړيو سره برابرې دي، يعني د لمانځه ټول مسائل د نارينه او ښځو لپاره يو شان دي، کوم توپير نه لري.

دليل: د دې لاندې حديث عموم پرې دلالت کوي: نبي عليه الصلاة والسلام فرمايلي دي: (إنما النساء شقائق الرجال).[أخرجه مسلم] شقائق الرجال أي: نظائرهم وأمثالهم.

ژباړه: ښځينه د نارينه‌وو په څېر او مثل دي.

* يوازې په يوه مسئله کې ښځې له سړيو نه مستثنی او جلا ګڼل شوي دي او هغه دا چې: په سجده کې د سړيو لپاره سنت طريقه دا ده چې څنګلې له اړخونو څخه جدا وساتي او د ښځو لپاره سنت طريقه دا ده چې څنګلې له اړخونو سره جوختې وساتي، همدا رنګه هر هغه ځای چې د سړيو لپاره پکې مجافات) اندامونه له يو بل نه لرې ساتل (سنت وي نو د ښځو لپاره پکې انضمام (جوختول) سنت دي.

قال ابن رجب رحمه الله: فأما المرأة فلا تتجافى بل تتضام و على هذا أهل العلم. ().

ژباړه: ابن رجب رحمه الله ويلي دي: ښځې به مجافات نه کوي، بلکې اندامونه به له يو بل سره جختوي او دا د اهل علمو نظر هم دی.

والحمدلله رب العالمين و على نبينا محمد وعلى آله و صحبه أجمعين.

بعون الله وفضله تمت الترجمة من اللغة العربية إلى اللغة البشتو لكتاب مختصر صفةصلاة النبي للشيخ أ.د. أحمدبن محمد الخليل- حفظه الله وأن يجزيه عما يقدمه للإسلام والمسلمين خيرا- بعد صلاة العصر, الساعة الرابعة يوم عرفة , بتاريخ: 9 ذوالحجة 1440ه الموافق:10أغسطس 2019م , في مسجد جثلاء بنت عبدالرحمن غفرالله لها ولوالديهاولذريتها ولجميع المسلمين ويسكنها فسيح جناته.

مدينةالرياض- المملكةالعربية السعودية.

د موضوعاتو فهرست


| م/شميره | موضوعات | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | سريزه | |
| ۲ | د لمانځه طريقه زده کول ضروري ده | |
| ۳ | لمانځه ته چمتوالي | |
| ۴ | اودس | |
| ۵ | لمانځه ته تلل | |
| ۶ | لمانځه ته نيت کول | |
| ۷ | لمانځه ته داخلېدل | |
| ۸ | تکبير تحريمه | |
| ۹ | قيام (اودرېدل) او قرائت لوستل | |
| ۱۰ | قيام | |
| ۱۱ | د قيام په حالت کې د لاسونو اېښودلو ځای | |
| ۱۲ | په لمانځه کې به سترګې کوم ځای ته نيسي | |
| ۱۳ | د استفتاح (د لمانځه پيل) دعا | |
| ۱۳ | د سورت لوستو څخه وړاندې أعوذ بالله ويل | |
| ۱۴ | تسميه (بسم الله) ويل | |
| ۱۵ | سورت فاتحه لوستل | |
| ۱۶ | قرائت په ټيټ يا په لوړ آواز لوستل | |
| ۱۷ | له سورت فاتحې څخه وروسته آمين ويل | |
| ۱۸ | له سورت فاتحې څخه وروسته قرائت لوستل | |
| ۱۹ | قرائت اوږدول | |
| ۲۰ | د تکبير تحريمه نه علاوه نور ټول تکبيرونه | |
| ۲۱ | رکوع | |
| ۲۲ | له رکوع نه وروسته په اطمئنان او برابر ودرېدل | |
| ۲۳ | سجده | |
| ۲۴ | د دوه سجدو تر منځ کښېناستل | |
| ۲۵ | دويم رکعت | |
| ۲۶ | لومړئ تشهد | |
| ۲۷ | د اول تشهد څخه درېيم رکعت ته پاڅېدل | |
| ۲۸ | پاتې لمونځ | |
| ۲۹ | آخري تشهد | |
| ۳۰ | سلام ګرځول | |
| ۳۱ | په لمانځه کې اطمئنان او خشوع | |
| ۳۲ | په لمانځه کې مخې ته ستره ودرول | |
| ۳۳ | د ښځو د لمانځه طريقه | |
| ۳۴ | فهرست | |


***Download From; Aghalibrary.com***